محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# محسن تفسیر

په پښتو

# ۹۸ ــ د «بیّنه» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین عنایت

د بيّنه سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه
سورةالبيّنه

## د بيّنه سورت (۹۸)

د «بيّنه» سورت مدني دی (۸) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۹۸) په نزول کې سلم (۱۰۰) سورت دی د «طلاق» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

خو ددې سورت د نزول د زمان او مکان په اړه د اشارې په توګه بايد ووايم چې په مختلفو مهالونو کې ددې سورت د نزول په اړه د ځېنو مخکينيو تر منځ اختلاف موجود وو. ځېنې مفسرين وايي چې دا سورت مدني دی خو ځېنې نور يې مکي ګڼي؛ د ابن الزبير او عطاء بن يسار وينا ده چې دا سورت مدني دی. له ابن عباس او قتاده څخه دوه ډوله ويناوې نقل شوي دي، يوه دا چې دا سورت مکي دی او بله دا چې دا مدني دی.

حضرت عائشه (رض) دا سورت مکي بولي. ابو حيان په بحرالمحيط کې او عبد المنعم ابن الفرس په احکام القرآن کې ددې سورت مکي والی غوره بولي. لنډه دا چې دا سورت په قرآني نسخو او په ډېرې روايتونو کې مدني ګڼل شوی دی، او ځېنو نورو روايتونو هغه مکي ګڼلی دی. که پاملرنه وکړو، له دې سره سره چې د سورت مضمون او د بيان او تعبير طريقه او همدا راز د آيتونو وزن او قافيه د سورت په مدني والي دلالت کوي. خو د سورت مکي والي ته هم ډېر دليلونه شتون لري، او د زکات او اهل کتاب ذکر د سورت د مکي والي له ګڼلو څخه مخنيوی نه کوي، او هغه له مکي والي څخه نه غورځوي. په مکه کې هم يوشمېر له کتابيانو اوسېدل. ځېنو له دوی څخه ايمان راوړی وو، او ځېنو نورو يې ايمان نه وو راوړی. همدا راز د نجران مسيحيانو خپلې استازې ډلې په مکه کې د پيغمبر حضور ته لېږلې وې او ايمان يې راوړی وو، چې مشهورې او معروفې وې. او د زکات ذکر هم په مکي سورتونو کې شتون لري.

**له مخکيني سورت سره يې اړيکه:**

د «بيّنه» سورت، د قدر له سورت څخه وروسته ځای پر ځای شوی دی، هاغه څه چې د قدر په شپه کې پر پيغمبر اکرم (ص) نازل شول، روښانه، څرګند او «بيّن» کتاب او د بشريّت لپاره د هدايت څراغ دی، چې د انسان د غوړېدا، زرغونتيا، سمسورتيا او رستګارۍ مسير او لارليک يې روښانه کړ. او دا حکم د قرآن د ټولو ۱۱۴ سورتونو لپاره رښتينی او صادق دی يعنې د ټولو سورتونو تر منځ يوه پياوړې، نه شلېدونکې او وثيقه اړيکه شتون لري. دا تصور چې وايي فرق يې نه کاوه چې د «بيّنه» سورت که دلته راغلی وای يا پنځه

سورته مخکې يا وروسته، يو ناسم او نادرست تصور دی. د قرآن سورتونه يو تر بله نه بېلېدونکي تړاوونه او پيوندونه لري، لکه د کتاب د څپرکو او فصلونو په څېر چې تاسو نه شئ کولی هغه ځای پر ځای او رد او بدل کړئ، که لوستونکو د کتاب اصلي لارليک موندلی وي، ويني چې هر فصل يې پر خپل مناسب ځای راغلی دی. او ټول فصلونه يې په منطقي تګه يو تر بله او په پر له پسې توګه تړاو لري.

پر دې بنا په قرآن کې د هر سورت اړيکه له مخکيني سورت او ورپسې سورت سره، په دې آسماني کتاب کې يوه له ډېرو پاملرني وړ نکاتو څخه ده. زموږ په زمانه کې مفسران دې مسئلې ته ډېره لږه پاملرنه لري؛ خو په تېرو پېړيو کې، په څلورمې او پنځمې پېړيو او تر ډېره بريده وروسته له هغې هم، دا مسئله د قرآن پېژندونکو تر منځ له بنسټيزو مسئلو څخه ګڼل کېده او د سورتونو تر منځ مناسبات، تړاوونه او اړيکې په بشپړه توګه د هغوی لپاره مطرح وې. دا اړيکې او مناسبتونه هم د سورتونو ترمنځ شتون لري او هم د آيتونو ترمنځ. د هيڅ يوه سورت آيتونه هم نه شو کولی مخکې او وروسته کړو. هغوی هم لکه د زنځير د کړيو په څېر يو تر بله نښتي دي او اړيکه لري، چې په هر حال دا موضوع ډېره د پاملرنې وړ موضوع ده.

د دوو مخکينيو سورتونو [قدر اوعلق] مطالب په ټوله کې پر پيغمبر اکرم (ص) د نازل شوې وحيِ په اړه دي، د هاغه کتاب په اړه چې د «قدر» په شپه نازل شوی او په پرله پسې توګه پرېښتې او روح له هر امره [دهغو د تفريق او تفصيل لپاره] د قدر په شپو کې کې نازلېږي. خو دا مسئله دوه لورې لري او له دوو جهتونو د پاملرنې وړ ده؛ لومړی د هغه د مخاطبينو [پيغمبر او پيروانو] له جهته چې څه ډول له هغه برخمن شي، دويم د پردو [مشرکينو او اهل کتابو] له جهته چې څه ډول ورته تبليغ وشي او په کومه شېوه او طريقه دعوت شي او بلنه ورکړل شي.

له لومړي جهته، د قدر سورت [او همدا راز علق] تر ګهيځه ددې شپې پر سلامتوالي، او د داسې پالونکي ښښتن د ربوبيت د اثراتو لوستلو ته، اشاره کوي، چې انسان او جهان يې وپنځوه او هغه ته يې قلم [او د هغه د کارولو طريقه] او هاغه څه چې پرې نه پوهيد ورزده کړل، همدا راز مسلمانانو ته د عبادت، صلوة، هدايت او تقوی لارې ورزده کوي ددې لپاره چې د کتاب د هدايت په مسير کې واقع شي، دا د تېرو دوو سورتونو اصلترين پيغام او محور دی. همدا راز لکه څنګه چې د علق په سورت کې د لومړنۍ وحی په اړه خبره شوې د قدر په سورت کې غواړي دا توضيح کړي چې وحی څنګه او کله نازل شوې. خو لکه څنګه چې دا دين «کافةٌ للناس» دی، ژغورونکی او نجات ببنونکی غږ يې بايد ټولو انسانانو ته ورسېږي او دا خبره تصديق شي چې دا الهي وحی د رسول [استازي] په توسه ټوله بشر ته رسول کېږي او همدا راز ددې توضيح چې د ددغه سپيځلي کتاب سره د رسول لېږل ولې ضروري دي.

د نورو قومونو په اړوند، چې په هاغه مهال کې مشرکين او اهل کتاب ول، بايد موضوع مطرح کېدی، او هم دا چې مسلمانان لومړنی امت نه ول چې د کتاب ښښتنان کېدل، اړينه وه چې له تېرو امتونو څخه د «اهل کتابو» تاريخي تجربې د خپلو کړنو او عمل پر وړاندې ولري او کومو آفتونو چې د هغوی يووالی، تفرقې او ګډوډۍ ته کشاوه له هغوی عبرت واخلي او په امن کې شي.

له همدې لامله وينو چې سمدلاسه پرله پسې له علق او قدر سورتونو وروسته، د «بيّنه» سورت راځي چې د مسلمانانو دريځ د نورو پر وړاندې روښانه کړي، او په انحراف او اختلاف کې د اهل کتابو کړنې، عملکرد او چلن د نوي دين پيروانو ته څرګند کړي. د بلنې او دعوت په اړه ټينګار کوي تر څو چې «بيّنه» هغوی ته رانشي، له خپلو زنګ نيولو او ورستو افکارو او عقايدو څخه نه راشکول کيږي او نه رابېليږي.

د هغوی له سرليکه د عبرت اخيستنې په اړه، د امت په راتلونکې کې د تفرقې له خطره د مخنيوي له لامله، يادونه کوي چې د هغوی تفرقه، د «بيّنه» له راتګ وروسته او د هاغو دستورونو په شتون کې وه چې توحيد ته په ميل او خواهش او له اخلاص سره په دين کې له شمول وروسته يې موندلي ول.

## د سورت د مضمونونو محور:

ددې سورت نوم «بيّنه» پخپله دده د محور او محتوا بيانوونکی دی. «بيّنه» يعنې هاغه څيز چې روښانه، واضحه او ښکاره دی ـ يو ښکاره څيز چې د سترګو پر وړاندې مخامخ شتون ولري: په منځ کې وي، نه ښې لورته، نه کيڼ ته، په بشپړه توګه په منځ کې. په بل تعبير نه شرقي وي نه غربي. سوچه په منځ کې قرار ولري او چې کورټ ښکاره او څرګند دی او ټول هغه ويني، بينه دی. «بيّنه» هغه څيز دی چې له هر ډول انحراف او کوږوالي څخه په امان کې دی. بيّنه پخپله د تشخيص ملاک او کنده ده. د بېلګې په توګه قطب نما تصور کړئ د کښتۍ ماڼو، تل د کښتۍ موقعيت د قطب نما په توسه سنجوي او خپل مقصد، پړاو او منزل پرې پيدا کوي. نو قطب نما د ماڼو لپاره «بيّنه» دی او د هغې په توسه پوهيږي چې په سم مسير او ليک لار مخکې روان دی يا نه. او د سفر په وخت کې تل کښتۍ د هغه په توسه تنظيموي. قطب نما د ځمکې قطب په نښه کوي. قطب، د ځمکې مقناطيسي مرکز دی. مسلمانان تل له ځان سره په سفرونو کې قبله نما لري چې د نمانځه پر مهال پوه شي قبله کومې لور ته واقع ده. د بېلګې په توګه په کابل کې قبله، له ۳۴،۵ درجو ښي لورته ګرځېدو سره د قبلې لور ته مخامخ کيږو او په نورو ځايونو کې دا درجه توپير کوي. د دنيا په هر ځای کې چې اوسو، قبله نما د قبلې لوری، موږ ته په نښه کوي. نو، د جهت د ټاکلو لپاره قبله نما ملاک او معيار دی. جهان هم يو قطب لري او يو مرکز، چې ټولې معنوي وړانګې له هاغه ځايه راځي. له «بيّنه» څخه مقصود او موخه همدا ده: هاغه څيز چې د هدايت جهت څرګندوي او پوهوي مو چې څومره ښي يا کيڼ لور ته منحرف شوي يو ددې لپاره چې خپل ځانونه له هغې سره تنظيم کړو، تورات، انجيل، يا قرآن، دا ټول «بيّنه» دي. پالونکي څښتن د هر قوم لپاره يو کتاب لېږلی چې د هغوی د هدايت د قطب نما حيثيّت لري، او سم لوری ورته تبيّن کوي.

يعنې ددې سورت نوم [بيّنه]، پخپله د هغه له محور، محتوا او مطالبو څخه يوه نښه ده او يو نور دی چې ستونزې روښانه کوي. د «بيّنه» کليمې اصلي ريښه، لکه د هغې د نورو مشتقاتو په څېر [بيان، تبيان، بينونه او...] د «بين» له ريښې څخه، د وسط او منځ په معنا اخيستل شوې ده، په هر ډول وسط او منځ کې ځای نيونې ته اړينه ده چې له نورو جهتونو رابېل او د هغوی په منځ کې ښکاره او څرګند شي، نو پر دې بنا له يو لورې له کيڼو او ښيو جهتونو [يا له افراط او تفريط، په بيره تللو او سوکه تللو او ...] څخه بېلېدل، جلا کېدل، انقطاع او انفصال تداعي کوي او له بل لورې په منځ کې، ښکاره او روښانه تعادل او هم غږې،

څرګندېدل او لواړېدل ورته اړين دي. او له همدې لامله اسلامي امت، «وسط امت» يا «امت وسط» نومول شوی دی چې د موسی (ع) د قوم له افراطي دنيا نمانځنې او د عيسی (ع) د قوم له رهبانيته، [ يا د هغوی تر غضب لاندې نېونې او بې لارې کېدنې څخه] مصئون او په امان کې وي. په دې ترتيب کله چې يو څيز ته «بيّنه» ويل کيږي، مطلب دادی چې هغه څيز په ښکاره او روښانه توګه په منځ کې د شتون له لامله، د څنډو نامتعادل او نا انډول جهتونه څرګندوي او د مختلفو مواضعو او درېځونو تر منځ د فرق د تشخيص لپاره دليل او روښانه کوونکې علامت ګڼل کيږي.

دا سورت د حضرت محمد بن عبدالله خاتم النبين رسول الله (صلی الله عليه و سلم)، رسالت د مشرکينو او کتابيانو عوامو ته مسجّل کوي او که په ساده بڼه يې بيان کړو، د حضرت رسول، رسالت ټول بشر تـه تسجيل کوي او پوهوي چې هغه جناب د الله له لورې ټول بشر تـه رالېږل شـوی دی، او د هغه جنـاب د رسـالت دا عموميّت، د الهي سنت، يعني هدايت تقاضا ده. هماغه سنت چې په لاندينيو آيتونو کې ورته اشاره شـوې ده الله تعالی فرمايي: «إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا» « په رښتينه مورږ، هغوی تـه [د پېژنـدنې لـه توکو سربېره، موخې ته د رسېدو] د لارې هدايت وکړ، کـه [هغـوی] شـاکر [او منندوی] [= د ژوند او هـدايت لـه نعمته ګټه اخېستونکې] وي، او که کافر [او نامنندوی] [= لـه نعمتـه ډېر ناشکره] وي.» [انسـان ۳ (۷۶:۳)]. «...وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ» «... او داسې امت نـه وو چې د هغـوی پـه منځ کې [لـه بې لاريـو څخه د مخنيوې لپاره] ګواښګرندې شتون نه درلود.» [فاطر۲۴ (۳۵:۲۴)]، چې پـه مجموع کې د حضـرت رسـول د دعوت پر عموميت استدلال کـوي او دا چې د هغه حضـرت دعـوت د انسـاني ټـولنې د صـلاح او نېکمرغـۍ ضمانت کوي، د وګړو او ټولنو عقيدې او کړنې سمې او اصلاح کوي.

نو په دې سورت کې د رسول د لېږلو ضرورت بيان شوی دی او هغه دا چې د دنيا خلک، که په اهل کتابو کې وي او که په مشرکينو کې چې په کفر اخته ول له دې حالته د هغوی راويستل پرته له دې چې يو رسول [استازی] ورته ولېږل شي شونی نه وو، داسې يو رسول چې پخپله وجود يې د هغه په رسالت روښانه دليل او «بيّنه» وي او دا کتاب په اصل طريقه او سمه بڼه، چې له ټولو باطلو ککړتياو څخه چې مخکينې کتابونه پرې لړل شوي دي، په بشپړه توګه پاک وي، وړاندې کړي.

---

| | |
|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنْفَكِّينَ حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿۱﴾ رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً ﴿۲﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿۳﴾ وَ مَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا | مُنْفَكِّينَ= بېلېدونکي [له هغه څه چې ورپورې کلک نښتي وي] ـ لاس اخيستونکي، جلا کېدونکي. حَتَّى تَأْتِيَهُمُ = تر دې چې دوی ته راشي. الْبَيِّنَةُ = روښانه او څرګند دليل ـ واضح او روښانه ـ په منځ کې له ورايه ليدونکی ـ روښانه دليل چې د هغه په توسه حق له باطله بېل شي، ښکاره نښه. يَتْلوا= لولي ـ صُحُفاً = صحف د صحيفه جمع، هغه ورق چې پرې ليکل کيږي، چې په قرآن کې دا لفظ اصطلاحاً د هاغو کتابونو لپاره استعماليږي چې پر انبياء (ع) نازل شوي دي. |

مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿۴﴾ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَ يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَ يُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ﴿۵﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ﴿۶﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿۷﴾ جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴿۸﴾

مُطَهَّرَةً = له هر ډول شرک، کذب، دروغو او باطل څخه پاک او سپېڅلی. كُتُبٌ = ليکنې ـ قانونونه. كُتُبٌ قَيِّمَةٌ = ولاړوونکي لیکنې ـ سم قانونونه. الْقَيِّمَة = استوار، پايدار، ټيکاو، ولاړوونکی، د حق په لار کې مخکښ، ارزښتناک. مَا تَفَرَّقَ = خپاره نه شول ـ بېل بېل نه شول. اوتوا = ورکړل شوی دوی ته. مَا أُمِرُوا= دوی ته امر نه وو شوی. مُخْلِصِينَ = په داسې حال کې چې دوی خالص کړی دی. الدِّينَ = عبادت او نمانځنه. حُنَفَاءَ = د حنيف جمع، حق ته مايل، يوازې د يو الله نمنځونکی [يکتاپرست] ورغ تر بلې اسلام کې داخلېدونکی هاغه څوک چې د حضرت ابراهيم په آئين وي. يُقِيمُوا = اداء کړي ـ ولاړ کړي. يُؤْتُوا= ورکړي. دِينُ الْقَيِّمَةِ = سم او رښتينی آئين، ارزښتناک دين، ټيکاو دين، ولاړوونکی او استواروونکی دين. خَالِدِينَ= تلپاتې. شَرُّ الْبَرِيَّةِ= بدترين مخلوق، خَيْرُ الْبَرِيَّةِ= بهترين مخلوق. عَدنٍ = تلپاتې، جاودان. أَبَدًا = دتل لپاره. رضِيَ =خوښ دی. خَشِيَ =له رُوب او شان څخه ډارشوی ـ د خپل عمل د غلطی له کبله له خپل ربه ډار شوی.

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنْفَكِّينَ حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿۱﴾

له کتابيانو او مشرکينو هغوی چې [له اسلام سره د ضديّت او دښمنۍ له لامله يې] انکار وکړ، [له خپلو عقيدو او عملونو] لاس اخېستونکي [او جلاکېدونکي] نه ول،[1] مګر دا چې څرګند دليل [او ښکاره نښه] ورته راشي.

| لَمْ يَكُنِ | الَّذِينَ | كَفَرُوا | مِنْ | أَهْلِ الْكِتَابِ | وَالْمُشْرِكِينَ | مُنْفَكِّينَ | حَتَّى | تَأْتِيَهُمُ | الْبَيِّنَةُ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نه ول | هغوی چې | کفر وکړ | له | کتابوالو | او مشرکانو | بېلېدونکي | تر هغې چې | راشي دوی ته | څرګند دليل |

فرمايي: لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنْفَكِّينَ. يعنې واقعيت دادی چې يوشمېر کسان له اهل کتابو او مشرکانو، او نه ټول هغوی ـ له خپلې لارې لاس نه اخلي:

ددې سورت لومړنی آيت د کليمو د ترکيب له پلوه او کوم احتمالونه چې په دې مبارک آيت کې شته د قرآن له مشکلو آيتونو څخه دی چې ډېر لږ آيتونه په دې ډول دي.

فرمايي: «له اهل کتابو او مشرکينو څخه کافران [يا: کافران له اهل کتابو او مشرکينو] تر هغې رابېلېدونکي او منفک کېدونکي نه ول تر څو چې ښکاره دليل هغوی ته راشي»

«مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ». «مِنْ» په عربي ژبه کې په ډېرو موردونو کې استعمالېږي چې راز راز معناوې لري. دلته دوه معناوې اټکل کېداى شي: يوه کېدى شي «مِنِ» بياني وي او بله کېدى شي دا «مِنِ» تبعيضي وي. که هغه بياني ونيسو د عبارت معنا داده: «کافران چې له اهل کتابو او مشرکينو څخه عبارت دي» او که مِن دلته تبعيضي وي معنا دا ډول کيږي: «له اهل کتابو او مشرکينو څخه هغوی چې کافر دي». چې مقصد يې ځينې له مشرکانو او اهل کتابو څخه دي.

منفکّين. «منفک» څه شيز دی؟ «فکّ» يعنې راشکول او بېلول. «انفکاک» هم له همدې ريښې دی. وايي دا دواړه يو له بله نه منفک کيږي [نه بېلېږي، نه جلا کيږي]. يا د ځمکې تفکيک، يعنې يو څوک چې خپله ځمکه قطعه قطعه کړي او د هرې ټوټې لپاره بېل بېل سند واخلي. يا چې وايي ځينې له دوی له خپلو ورستو فکرونو او تړاوونو څخه نه منفک کيږي، نه بېلېږي او نه راشکول کيږي؛ داسې له هغو سره روږدي دي چې پر ځانونو يې نښتي دي او پر زړونو يې خيرې او زنګ پرېوتی. يعنې د منفکين موخه او مطلب دادی چې دوی له خپلو پخوانيو عقيدو بېلېدونکي نه ول، تر کومې؟ تر هاغه مهاله چې بيّنه او روښانه دليل ورته راغی او دوی يې له هاغو عقيدو څخه چې پرې نښتي ول، بېل کړل.

ددغه آيت ظاهر د انسان د فکري او روحي واقعيتونو او د هغوی د علاج د طريقو څرګندوونکی دی، او دا حقيقت او کلي واقعيت څرګندوي چې: باطلې او کفري عقيدې، د هاغو کسانو په روح کې چې پرته له تفکره، د کفر پر لور مخکې تللي په داسې توګه ګډېږي، ترکيب او تکوين شوي چې له هغې منفک کېدونکي نه دي، ځکه کوم نظر چې که حق وي يا باطل، که د انسان په ذهن کې له تلقينونو او له عاطفي توجيهاتو سره ګډ او ځای پر ځای شي ، د زماني له تېرېدو او وراثت او له نورو لاملونو او عواملو سره، له عقل، حقپالي فطرت، خيال او انساني عاطفو سره تړل کيږي، ګډېږي، منعقد او ترکيبېږي او د عقيدې بڼه نيسي او که دا پنځېدلې عقيده ـ[لم يکن...] ـ...باطله، کفر او شرک وي له يو مخې د تعقل لار بندوي او له روښانه، قاطع او لارايستونکي دليل پرته ناشوني ده هغه، له وګړي بېله شي.

حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ. تر هاغې چې کومه بيّنه ورته راشي. يعنې يو څيز لکه د هماغې قطب نما په څېر چې په دقيقه توګه حق ورته روښانه او څرګند کړي؛ يعنې تر دې بريده ځواکمن، روښانه،

پياوړی او څرګند وي چې د انکار ځای پرېنږدي. او هغه هم په خپلو عقيدو داسې کلک نښتی وي چې له بيّنه پرته کوم بل څيز ورته ګټه ونشي رسولی.

انسان د فطرت پر بنسټ او حکم، حقپالی دی: د «عقيده» کليمه چې موږ يې کاروو، د «عقد» او «انعقاد» سره له يوې مادې او ځتې څخه ده. هغه څه چې انسان يې د تفکر او اندنې له لارې لاسته راوړي، له هاغه سره چې يوازې اعتقاد يې پرې پيدا کړی پرته له دې چې يوه عقلاني مبنا او بنسټ ولري، او دې اعتقاد له هر څه زياته عاطفي ريښه پيدا کړې ده. که يو فکر او اند د انسان په ذهن کې پيدا شي او وروسته بيا د انسان له عاطفو يا عادتونو سره [يا د عاطفو او عادتونو په څېر ځيزونو سره] غوټه وخوري، دا فکر او اند د انعقاد، تړلي او کنګل حالت غوره کوي. دا پخپله يوه مسئله ده. آيا بشر داسې يو استعداد لري چې که يو روښانه دليل (بيّنه) ورته راوړل شي له خپلو بې دليله عقيدو څخه لاس واخلي او په هاغه «بيّنه» پسې روان شي؟ هو، الله تعالى انسان همداسې پنځولی. الله تعالى انسان ته حقپالي او حق پلټونکی فطرت ورکړی دی. انسان که د قانع کوونکي يو واضحه او روښانه دليل سره مخامخ شي چې د عقل قانع کوونکی وي، د خپل حقپالي او حق پلټونکي فطرت په حکم له خپلې پخوانۍ عقيدې څخه اوړي، سره له دې چې اووښتل ترې سخت او ستونزمن دي، خو په عين حال کې د روښانه دليل پر حکم او اساس ترې لاس اخلي. انسان د وړوکتوب په دوران کې د مسئلو په اړه ځومره مختلفې عقيدې او لومړني فکرونه پيدا کوي، خو وروسته چې معلومات يې زيات او مطالعه يې پراخه شي او بيّنه ورته ثابته او اقامه شي، خپل ځان د بيّنې او دليل له غوښتنو او تقاضاو سره سم برابروي. همدا لامل دی چې قرآن د بيّنه لپاره د ځواک په توګه قايل دی او دا پخپله يوه ارزښتناکه موضوع ده.

ددې خبرې مقابله موضوع داده: فرض کړئ چې منطق او بيّنه او له عقل سره برابر دليل، هيڅ ځواک او قدرت نه لري او د انسان پر وجود هيڅ واکمني نه لري او اغېز نه شي کولی، په عامه توګه انسانان چې هرې عقيدې ته ميل او اراده پيدا کوي؛ کېدای شي دغه عقيده له دليل، بيّنه او عقل پرته بله هره ريښه ولري؛ يعنې ددې پر خلاف چې معمولاً خلک تل د عقل او دليل څخه يادونه کوي او باتې وهي او وايي«موږ تر هغې چې واضحه او روښانه دليل پيدا نه کړو، کومې موضوع ته ميلان نه پيدا کوو.» خو په عمل کې تل ددې پر عکس دی.

خو هاغه کسان چې «بيّنه» ته په ځواک قايل نه دي ټول يو لاس نه دي او بېل بېل دي؛ موږ وينو هغوی چې د دليل او بيّنه، نقش او رول نه مني مختلفې لارې وهي؛ ځينې يې پر خپلو عادتونو تکيه کوي او وايي چې هاغه څه چې د انسان پر وجود واکمن دی، عادت دی نه عقل. دوی

وايي: عقيدې له عادتونو پيدا کيږي. عقل نه شي کولی عقيده راوړي [بلکې عادت يې راوړي] او هم نه شي کولی کومه عقيده چې د عادت په توسه پيدا شوې له منځه يوسې او که بنا پر دې وي چې کومه عقيده له منځه ولاړه شي بايد يو بل عامل پيدا شي په هر حال د داسې کسانو لپاره عقل د انسان په وجود کې کومه واکمني نه لري.

ځينې نور سربېره پر دې چې د انسان د عقل لپاره په کومه واکمنۍ قايل نه دي د انسانانو عقيدې دهغوی د ګټو او منافعو زيږنده ګڼي. دوی وايي: په ناخبره توګه انسانان تل هاغه ډول عقيده پيدا کوي چې د هغوی د ګټو تقاضا او غوښتنه وي. ماترياليستانو يوه مشهوره جمله ويلې:«ووايه چې څه خوري؟ چې زه درته ووايم څه فکر کوي؟». يعنې فکر او اند د ګېډې تابع دی. د «څه خوري؟» څخه مقصد دا نه دی چې آيا ډوډۍ او پنېر او سبزي خوري يا پولاو او چرګان، بلکې مقصد يې دادی چې آيا په فقيرانه ټولنه کې ژوند کوي يا ژوند يې د غنيانو ژوند دی، چې زه درته ووايم د جهان په اړه څه فکر او قضاوت کوي او جهان څه ډول ويني.
دوی هم، عقل ته په کوم نقش قايل نه دي. که دوی ته ووايو «په هر حال انسان عقل لري» وايي عقل پربېږده، له ګټو او منافعو وايه، ګټې چې په هر لور وي انسان هماغه ډول فکر کوي.

## قرآن د عقل لپاره پر اصالت قايل دی

خو دا له قرآني اصولو څخه دی چې قرآن د عقل او عقلاني دليل لپاره په اصالت او ځواک قايل دی. دا چې وايي په قرآن کې د عقل په اړه ډېرې خبرې شوې دي، يوازې دا نه دي چې د عقل او تعقل او تکفر او لبّ نوم او هاغه څيزونه چې پر عقل دلالت کوي په قرآن کې زيات اخيستل شوي چې البته زيات هم اخيستل شوي، بلکې سربېره پر دې، له انسانه د قرآن زياتره برداشتونه پر دې بنسټ دي چې عقل د انسان په وجود کې يو اصيل او ستر ځواک دی او که انسان له يوه عقلاني دليل او **بيّنه** سره مخامخ شي، د هغه پر وړاندې به تسليم او خاضع کيږي. الله تعالی انسان دا ډول پنځولی دی. عقل د انسان د وجود جوهر دی. همدا لامل دی چې قرآن په ډېريو ځايونو کې د «**بيّنات**» کليمه کارولې: « لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ...» [حديد ۲۵ (۵۷:۲۵)]. په تحقيق موږ خپل پيغمبران له واضحه او روښانه **بيّناتو** او دليلونو سره واستول.

**بيّنه** د انسان پر وجود کوم مهال اغېزناکه وي؟ [**بيّنه** يعنې دليل، او دليل د عقل له عالم سره اړيکه لري.] هغه مهال کېدی شي کاري او اغېزناکه وي چې عقل د انسان په وجود کې اصيل او بنسټيز نقش ولري او يوه اغېزناکه قوه اوسي. البته انسان يوازې او محض عقل نه دی، بلکې لکه څنګه چې د عقل قوه لري او د هغه د عقل ځواک د **بيّناتو** په مقابل کې قهراً او جبراً تابع او

خاضع دی، نورې قوې هم لري او احياناً ددې پر ځای چې له خپله عقله تبعيت وکړي د خپل نفس له هوا تبعيت کوي.

نو په دې جهت کې چې بيّنه او عقلي دليل، عقل خاضع کوي او دا چې عقل، پخپله د انسان په وجود کې يو ځواک او قوه ده هيڅ بحث او ترديد نشته. خو انسانان له دې جهته چې له عقله پليوني کوي يا نه کوي يو ډول نه دي، چې البته ډېرى وختونه پليوني کوي.

لکه څنګه چې مو وويل د «منفکّين» کليمه د «فکّ» له مادې څخه ده؛ او مضاعف هم ده. کله چې دوه څيزونه يو پر بل ښه کلک او محکم نښتي وي په داسې ډول چې په زور بايد له يو بله بېل شي، [د هغوى بېلېدلو ته] «فکّ» وايي. «انفکاک» يا «فکّ» د بېلتون په اړه کارول کيږي، هغه هم د داسې دوو څيزونو بېلښت چې ډېر سخت او کلک يو پر بل پورې نښتي دي.

چون د انسان عقيدې که څه هم ميراثي، تقليدي او بې دليله وي، واقعاً انعقاد يې پيدا کړى وي او سختې شوې وي، له دې عقيدو بېلېدل، انفکاک دی؛ يعنې له يو بله د دوو داسې څيزونو بيلېدل دي چې ډېر سخت پر يو بل پورې نښتي دي.

قرآن وايي د کافرانو په منځ کې له اهل کتابو او له مشرکينو يوه ډله داسې وه چې له خپلو پخوانيو زړو عقيدو بيليدونکي نه ول مګر دا چې بيّنه او روښانه دليل ورته راشي. کله چې بيّنه او روښانه دليل ورته راغی خپل ځانونه يې له پخوانيو عقيدو بېل کړل او ويې ويل:
موږ پوه شولو چې دا حق دی او زموږ هاغه پخوانۍ عقيدې باطلې دي او هغه مو لېرې وغورځولې او له هغوى بېل شولو. په دې اړه پخپله قرآن کريم له کتابيانو او غيرکتابيانو څخه يو شمېر ته اشاره کوي. د اسلام تاريخ دا څرګندوي چې له همدوې متصلبو او متعصبو، بت پالونکو څخه څه ډول ځينې خلک چې واقعاً دا راز عقيدو په دوی کې رسوخ درلود، کله چې د رسول اکرم په مقابل کې واقع شول او له روښانه دليل [چې دلته قرآن خپله پيغمبر د روښانه دليل په توګه بيانوي] سره مخامخ شول خپل ځانونه يې له دې عقېدو بېل کړل. داسې کسان د کتابيانو په منځ کې هم زيات ول، ځينې کسان له کتابيانو چې البته ډېرى يې مسيحي عالمان ول او لږ شمېر يې يهودي عالمان ول.

لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ.

دا ډول وو چې له کتابيانو او مشرکينو څخه يو شمېر کافران له خپلو عقيدو [له هغو چې پرې ول، له هاغې وضعې چې په اعتقاد او کړنو کې يې چلن درلود] بېلېدونکي نه ول، مګر دا چې

روښانه دلیل ورته راشي؛ یعني روښانه دلیل چې راشي، نور یې خپل ځان له خپلو پخوانیو عقیدو په تولیزه توګه بېلوه او بېل یې کړ.

له أَهْلِ الْكِتَابِ څخه مقصد یهود او نصارى دي چې دیني تعصب یې درلود او له خپله دینه یې لاس نه اخیست، خو له دوی ځینې یو شمېر چې د انصاف خاوندان ول او له عقله یې کار اخیست او د تورات له حکمونو سره سم یې عمل کاوه، چون په قرآن او د حضرت رسول (ص) په کلام کې یې روښانه او ځرګند دلیل ولید ویې مانه او تسلیم شول.

د سورت د مضمونونو محور تر عنوان لاندې پورتنیو توضیحاتو ښایي دا مطلب روښانه کړی وي چې ولې پر پیغمبر اکرم د نازل شوي کتاب او نورو آسماني کتابونو محتویاتو ته «بیّنه» وایي «...اَوَلَمْ تأتِهِمْ بَيِّنَةٌ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَى»«...آیا کومه بیّنه [روښانه دلیل] له هغه څه چې په تېرو کتابونو کې شته، هغوی ته نه دی راغلی؟...» [طه ۱۳۳ (۲۰:۱۳۳)]، او ولې ددې سورت په لومړني آیت کې ټینګار کیږي چې:«له مشرکینو او اهل کتابو څخه، کفار [ناشکران][له خپلو جاهلانه او مشرکانه فکرونو او عملونو څخه]لاس اخیستونکي نه دي مګر دا چې«بیّنه»ورته راشي.

کله چې بیّنه راغله د هغې تر روښانه کوونکي نور لاندې حق او باطل ځرګندیږي او د هر چا واټن، له ښي او کیڼ اړخ څخه، تر منځ خطه پوره مشخص کیږي. په دنیوي ژوند د روږدو کسانو او دهغې د اسارت په زولنو او زنځیرونو کې د ایسارو خلکو بېلېدل او پرې کېدل به ترې هغه مهال تحقق وموميي(منفکین)، چې د «بیّنه» ځواکمنه جاذبه هغوی خپلې لور ته وکښښوي، اوهاغه وخت به منفک او آزاد شي چې له خپلو تړاوونو او اړین تیاو سره متناسب په خپل ټول وجود او شته ځواک نه ستړې کېدونکې هڅه سر ته ورسوي. او بې جهته نه ده چې په یوازیني بل ځای کې چې په قرآن کې د«فکّ»کلیمه کارول شوې ده، د غرګرځي دسختو هڅو یو انځور، د تړاوونو او بندونو د شلولو او د حرکت او سنغ ستونځ ته د پورته تګ د خنډونو د لېرې کولو او پرې کولو لپاره یې انځوروي:«فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ﴿﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ﴿﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ﴿﴾»[بلد۱۱ (۹۰:۱۱)تر ۱۳] خو هغه[انسان له دې سره سره لا تر اوسه] د دې غونډۍ هغه سنغ ستونځ [او هسک پوړ] سرکولو [او ختلو] ته هیڅ غاړه نه ده ایښې. او ته څه پوهیږې، چې هغه د غونډۍ سنغ ستونځ [ته ختل] څه شیز دی؟[له اسارته] د غاړې آزادول دي، [= د مریي ازادول او له مریتوبه د ځان آزادول]

۱ ـ «مُنفَكِّينَ» د «فَکَّ» له ريښې پر بېلېدو دلالت کوي. انفکاک او تفکيک هم له همدې ريښې دي. دا چې له اهل کتابو او مشرکينو څخه ځينې کافران يې له څه ځيز بېلېدونکي نه دي دا يې په ظاهره هماغه کفر ګڼلی دی، له يوازيني بل آيت څخه چې دا کلِمه په قرآن کې راغلې ده، کېدی شي د فکري اسارت اړوندتوب او انحرافي زړه ترنه استنباط شي[بلد۱۱ (۱۱ :۹۰)تر۱۳] فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ، ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ، ﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ﴿﴾ [هاغه سخ ستونځ يې نه دی وهلی، او ته څه پوهېږې چې سخ ستونځ څه ځيز دی!؟[له اسارته] د غاړې آزادول دي.

---

رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً﴿۲﴾

[دادی هغه نښه او دليل] د الله له لوري استازی دی چې [له هر راز شرک او کفره] پاکې[۲] [او سپېڅلې] صحيفې [او ليکنې] هغوی ته لولي.[۳]

فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴿۳﴾

چې په دې [صحيفو] کې سمې [قايموونکي او اوچتوونکي] ليکنې دي[۴] [= وده ورکوونکي او انسان جوړوونکي ليکنې].

| رَسُولٌ | مِنَ اللَّهِ | يَتْلُو | صُحُفًا | مُطَهَّرَةً | فِيهَا | كُتُبٌ | قَيِّمَةٌ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| يو استازی | د الله له لوري | لولي | صحيفې | پاکې | په دې کې | ليکنې ـ حکمونه | سم ـ محکم |

---

خو څوک يا څه ځيز کېدی شي، بيّنه وي؟ آيا يو فيلسوف بايد راشي او فلسفي مسائل او نظريې مطرح کړي؟ دا سمه ده چې د مسلمانانو تر منځ يو شمېر فيلسوفان هم څرګند شوي دي، آيا هغوی، يا پوهان او هنرمندان، کولی شي «بيّنه» راوړي؟ څوک کولی شي؟ رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ. يو رسول [يو استازی] د الله له لوري. «رسول» يعنې هغه څوک چې يو رسالت او يو پيغام يې له ځان سره راوړی، خو پيغام يې د ځان په اړه نه دی؛ له ځانه يې خوټېدلی نه دی. «رسول» هاغه څوک نه دی چې د ټولنيزو ستونزو او کشالو په اړه يې څېړنه او اندنه کړې او د ورځينيو مسئلو لپاره حل لارو ته رسېدلی وي، چې په دې صورت کې به هرو مرو خپل زمان او مکان ته تابع کېږي او دا جوته ده چې قومي او نژادي تعصبات به هم د هغه پر اندنه او تفکر اغيز ولري او تړاو به يې له خپل چاپېريال او د چاپېريال له مسئلو سره وي. رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ د الله له لور لېږل شوی دی؛ د الله استازی دی، نه د خاورې او ويني رسالت لرونکی، هغه له دوی ډېر پورته، اوچتتر، او ارزښتناک دی او دا بيّنه پرته له دې نورو چارو دی.

دا بيّنه واضح څرګند او د ليدني وړ دی، او په ځانګړو صفتونو موصوف دی چې کولی شي د

ټولو خلکو په اخلاقو، عاطفو او فطري عقل کې نفوذ وکړي او داخل شي او سر تر پایه د هغوی ټول وجود جذب کړي او هغوی وهڅوي او له هر ډول ټولنيزو او فکري وهمونو او قيدونو يې خلاص کړي، منفک او آزاد يې کړي. دا څرګندونه بيّنه د ذهني او عقلي دلايلو په څېر نه دی چې خواصو ته محدود وي هغه هم چې یوازې د هغوی ذهني افکار روښانه کړي. له رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ څخه پوهېدی شو چې هغه رسول يو انسان د الله له لورې لېږل شوی دی چې وينا او چلن او ټول وجود يې د حق څرګندوونکی دی او هيڅ ډول انګيزې، عقدې او نفساني هواګانې او د چاپېريال عوامل او لاملونه د هغه پر رسالت کوم اغيز او دخالت نه لري، له همدې لامله پېښې، خنډونه، ماتې او بریالیتوبونه د هغه منطق او روش ته کوم تغير نه ورکوي. هغه چون د الله له لورې لېږل شوی دی د الله استازی دی، د هغه د وحی څرګندوونکی او بیانوونکی دی زړه او ژبه، پيل او پای يې يوه او يوشان ده. د هغه سرچينه چون له مکان او زمان، چاپيريال او مهال څخه اوچتتره ده د حادثو پنځوونکی او پر مخ وړونکی دی او د هاغو کسانو په څېر نه دی چې حق د عنوان او وسيلې په توګه کاروي او د خپلې زماني د ورځيني سياست سیاستوال، سياسي لوبغاړی او وګړی وي. حادثې او پېښې هغه نه مخکې وړي او نه يې تموي او نه هرې خواته تاوېږي راتاوېږي او نه له هر راز شرايطو سره ځان تطبيقوي او برابروي او نه د خپل کار د پرمختګ لپاره رنګ بدلوي او نه راز راز څېرې غوره کوي. هغه يوه څېره، يوه ژبه، يو دعوت، يوه بلنه او يو روش لري.

نو هغه روښانه دليل او بيّنه رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ د الله له لورې يو استازی دی. [دلته بيّنه پخپله پيغمبر دی]. هغه خپل منشور او د بلنې سرليک په څرګنده توګه لولي، تلاوت يې کوي. يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً چې پاکيزه او سپېڅلې پاڼې او ورقې تلاوت کوي؛ [دلته هم «يَتْلوا» دی نه «تَلا». لکه څنګه چې «تَأْتِيَهُمْ» مضارع فعل دی «يَتْلُوا» هم مضارع فعل دی او هيڅ کوم دليل نه لري چې «تَأْتِيَهُمْ» د ماضي په معنا ونيسو.] يعني پيغمبر چې قرآن خلکو ته تلاوت کوي.

[د «ورق» يا «ورقه» اصطلاح چې وسمهال ورته په پښتو کې «پاڼه» وايي نوې اصطلاح ده، پخوا به يې ورته «صحيفه» ويله. اوس موږ د ورق يو لور ته «صفحه» [مخ] وايو. «صحيفه» د ورق په معنا ده.]

رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً. دا الهي استازی، يَتْلُو. تلاوت کوي او خلکو ته وايي او بيان کوي. کوم څيز؟ صُحُفاً. «صُحُف» د «صحيفې» جمع ده او صحيفه، کاغذ او کتاب او ليکپاڼې ته ويل کېږي او په ټوليزه توګه هر هغه څيز ته چې په هغه کې مطلبونه يا حقيقتونه درج او لېکل شوي وي. البته د پيغمبر په زمانه کې لېکل د کاغذ پر مخ معمول نه ول. نو مطلب يې مشخصه

صفحه يا صفحې نه دي، يا لوحه چې پرې کومه ليکنه شوې وي، يا مثلاً پوستکی نه دی [لکه د هوسۍ يا د اوښ]. مقصد يې دادی چې يو شمير حقيقتونه ورته څرګندوي، نه هرو مرو کوم کاغذ، چې هغه ولولي. يو بل فرهنګ، بله فضا، بل تصوير او تصور په هغوی کې او د هغوی په چاپيريال کې رامنځته کوي. يعنې رسول د خلکو روح او ذهنيت د حقيقتونو له صفحو او افقونو سره آشنا کوي. څه ډول صفحې؟ مُّطَهَّرَةً، داسې څيز چې هم پاک دی او هم پاک کوونکی. هره طرحه، هره تئوري او انديښنه چې هر چا په هره ټولنه کې وړاندې کړې، د هغوی له خپلو ذهنيتونو خوټېدلې او راوتلې او د هغوی د خپلې ټولنې د ستونزو او مسئلو په اړه دي چې البته څرګنده نه ده چې پاکې او پاک کوونکې اوسي. موږ په خپل چاپيريال کې له داسې نوو نظريو سره مخامخ کيږو چې کېدای شي پاکې نه وي او پاک کوونکې هم نه دي، موږ په خپلو ټولنو او چاپېريال کې وينو چې عملاً هم داسې نه دي.

خو کوم پيغام چې د الله استازي راوړی دی، کومې صحيفې چې هغه جناب لولې دا صحيفې، د انسان ستر عالي هدفونه او موخې او هغه ته د رسېدلو لار څرګندوي او هغه کسان چې په اخلاص او صداقت دا پيغام ومني هغوی ته هيلې اميدونه، تحرک او ځواک وربښي او د حق دښمنان له مخالفته منع کوي او د هغوی له خطرناکه راتلونکي هغوی ته خبر ورکوي او د بدې راتلونکي لپاره هغوی ته ګواښنه او ډار ورکوي. هغه جناب هاغه څه چې لولې او وايي، د بشپړ بلاغت او اعجاز لرونکي دي، او کوم ابهام او نيمګړتيا نه لري او د ځان غوښتنې، دښمنۍ، کينه کښنې له ککړتياو يا د ډلې، قوم او طبقې له ګټو او تاوانه پاک دي او پخپله مطهر او د نفسونو او عقلونو د تطهير او له کفر او شرکه د هغوی د ژغورنې لپاره دي. کولی شي د بشريت ټولنې ته تغيير ورکړي او خلک، هغه ته په مخه کولو، کولی شي له هاغه څه چې په هغوی تړل شوي، بېل، آزاد او منفک شي. او په پايله کې فلاح او نېکمرغۍ ته ورسېږي.

د پيغمبر خپل وجود بيّنه وو:

رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً. فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ. دلته له نورو ټولو نکتو سره مل يوې بلې نکتې ته اشاره شوې ده. هغه دا چې پيغمبر اکرم (ص) هر مناسبت ته د قرآن آيتونه تلاوت کول. چې همدا وضعه او چاپيريال پخپله بيّنه وو. معجزې ته هم له همدې لامله، چې روښانه دليل دی بيّنه وايي. نو که د پيغمبر اکرم (ص) خپل شخصيت ته پرته له دې چې نور عوامل په نظر کې ونيسو پاملرنه وکړو، پخپله پيغمبر سربېره پر قرآن يا قرآن چې پيغمبر هغه لوست، بيّنه دی؛ چون د پيغمبر خپل شخصيت حسابي شخصيت وو. د پيغمبر څلويښت کلن دوران چې په

خلکو کې یې ژوند وکړ دومره ځلاند وو چې پخپله حضرت محمد (ص) پرته له کومې بلې اغېزې د خلکو تر منځه د «صادق امین» په توګه پېژندل شوی وو. او خلکو به ویلې: د هغه په وجود کې له صداقت او امانت پرته نور څه نه شته.

دا چې الله تعالی پیغمبر په څلوېښت کلنۍ کې مبعوث کړ ښایي یوه فلسفه یې دا وي چې په دې موده کې خلک، هغه او د هغه خُلق او خوی له نژدې وپېژني. تاریخ لیکي: وروسته له دې چې حضرت رسول اکرم (ص) خپل رسالت څرګند او په ډاګه کړ او خلکو ته یې وویل زه رسالت ته مبعوث شوم، زیات شمیر خلک به راتلل او ویل یې: «یا محمده! که ته پخپله ووایې زه پیغمبر یم او واقعاً ته پخپله باور لرې چې پیغمبر یې، موږ یې منو.» یعنې پخپله پیغمبر بیّنه وو.

## د اسلام بیّنه قرآن دی

تاریخ ګواهي ورکوي ـ نه یوازې د صدر اسلام تاریخ، بلکې زموږ تر زماني پورې تر اوسه وضعه پر همدې ډول ده ـ چې قرآن د اسلام بیّنه دی؛ چون پیغمبر هم یو انسان وو او په پایله کې له دنیا ولاړ او د هاغو کسانو لپاره چې پیغمبر یې نه دی لیدلی او د هغه مبارک حضور یې نه دی درک کړی پیغمبر یو تاریخي شخصیت دی. نو اسلام د قرآن په توسه ساتل کیږي.

نو ځکه فرمایي: هغه بیّنه، پخپله پیغمبر وو چې قرآن یې تلاوت کاوه. بیّنه همدا وو. قرآن غواړي ووایي چې سره له دې چې یو شمېر خلکو له خپلو عقیدو سره د زړه تړاو درلود خو په عین حال کې یې سپېڅلی او پاکیزه فطرت درلود په داسې ډول چې کومه بیّنه پیدا کېدای، حاضر ول له خپلو هاغو زړو عقیدو لاس واخلي. بیّنه پیدا شوه او له خپلو پخوانیو عقیدو یې لاس واخېست. البته مخکې مو وویل دلته «مِنْ» تبعیضي دی؛ یعنې له اهل کتاب او مشرکینو څخه ځېنې کافران، نه ټول کتابیان او نه ټول مشرکین.

خو، دا باید واضح شي چې په دې صحیفو کې څه څیز راغلی دی؟ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ. په صحیفو کې چې پیغمبرانو د الله له لورې راوړې دي؛ كُتُبٌ قَيِّمَةٌ، ولاړوونکې او ټېکاو لیکنې دي «كُتُبٌ» یوازې د خطي کتابونو په معنا نه دی. په ټولیزه توګه، هر مطلب چې د ثبت او ضبط په بڼه راشي او د قانون په بڼه مدون شي، کولی شو هغه ته «کتاب» ووایو. په قرآن کې وایي: «كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ». [بقره ۱۸۳ (۲:۱۸۳)] روژه پر تاسو ولیکل شوه. «ولیکل شوه» یعنې قانون شو، فرض او مقرره شوه یا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ. [بقره ۱۷۸ (۲:۱۷۸)] «قصاص» پر تاسو ولیکل شو، یا مثلاً وایي جهاد ولیکل شو. نو مکتوب کېدل، یعنې مقررېدل. د طبیعت او جهان مقررات ، چې

ناليکلي قوانين لري، لکه کهکشانونه چې ټول د «کتاب او قانون» له مخې روان دي، ګرځي. يعنې همدا نظامونه او قوانين چې پر دنيا واکمن دي، او ځينې نور لکه د شريعت د قوانينو په څېر، چې لېکل شوي او تدوين شوي دي د «شريعت» په نامه نومول شوي، او په مقابل کې يې د «طبيعت» قوانين، چې د تکويني قوانينو په نامه معروف دي.

نو دا «صُحُف مُطَهَّرَة» هاغه قوانين دي چې د الله له لور راغلي دي. دا قوانين د کومو صفتونو لرونکي دي: قَيِّمَة. چې د «قائم» او «قيام» له کليمو سره هم ريښه دی. دا قوانين «قَيِّمَة» دي يعنې سم او ولاړوونکي دي. که يو کس يا ټولنه پر هغوی عمل وکړي، د لټې، سستۍ، تمبدو، بېخودۍ، وروسته پاتې والي او ارتجاع له حالته به اوچت، نېغ، سم او ولاړ شي. لکه د داسې يو ګل يا ګياه په څېر چې د اوبو د نشتوالي له لامله مړاوی شوی او د وچېدو په حالت کې دی، خو کله چې هغه ته اوبه ورسيږي، له څو ساعتو وروسته د مړاويتوب له حالته راوځي او تازه کيږي نېغيږي، پر پښو ودريږي او ولاړيږي. وګړي هم همدا ډول دي، هغوی هم د ژوند اوبه [آب حيات] غواړي. ټولې، ټولنې همدا حکم لري، پرله پسې د الله له لورې رسولان او استازي غوره کيږي او لېږل کيږي او په دنده ګومارل کيږي او کتب راوړي چې ټولنې ولاړې کړي او اوچتوالي او تعالي ور وبښي، او له شرک او کفر او عناد، دښمنۍ، جهالت، وروسته پاتې والي، او حرص او حسد او نورو رذيلتونو څخه يې وژغوري، دا دپيغمبرانو نقش او رول دی.

نو فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ په دې ورقو کې قيّم لېکنې دي.

«قيّم» دلته دوه معناوې لري چې هر دواړه دلته سمې دي: يوه د نهايت اعتدال په معنا، او بله په هماغه معنا چې د يتيم د قيّم په اړه يې کاروو. يعنې هغه څوک چې د يتيم قيموميت کوي، قيّم ورته ويل کيږي. قيّم ته ولې قيّم وايي؟ يو يتيم چې کله صغير وي چې پخپله په يوازې ځان نه شي کولی د خپل ژوند مصالح او چارې اداره کړي، يو پورته او اوچت مقام چې زړه سواندی، خيراندی او پوه دی، د هغه د قيّم په توګه ټاکل کيږي. دلته «قيّم» يعنې د دغه ماشوم مصالحو ته قيام کوونکی او تل ولاړ دی. قرآن په دې ځای کې وايي: د قرآن آيتونه او مطلبونه ستاسو قيّم دي، يعنې قرآن د بشريت د مصالحو لپاره قيام کړی دی؛ په دې لېکنو کې د بشريت مصالح ليکل شوي دي.

د «قيّم» کليمه په قرآن کې:

د قيّم کليمه [يا «قيّمه» چې په دريم آيت کې راغلې] د قرآن په ډېريو آيتونو کې راغلې. د کهف سورت په پيل کې «قيّم» خپله د قرآن لپاره د صفت په توګه راغلی، فرمايي: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي

أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا قَيِّمًا لِيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا...» «[په ټوله کې] ستاینه هغه الله ته ځانګړې ده چې دا کتاب [=قرآن] یې پر خپل [غوره] بنده نازل کړ او په هغه کې یې هېڅ ډول پېچلتوب [= د پوهې او درک ستونزه او مشکل] پرېښی نه دی. [یو کتاب] ولاړوونکی [=لوړتیا ښئونکی او وده ورکوونکی] چې د هغه له لوري [کافرانو ته] جدّي ګواښ [او ډار] ورکړي ...» [کهف۱ (۱۸:۱) او ۲]. په څو نورو آیتونو کې «قیّم» د «دین» لپاره د صفت په توګه راغلی. د روم په سورت کې راغلي: «فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ الْقَيِّمِ...» «نو ته خپل مخ ډېر سم ولاړوونکي دین ته سم برابر کړه...» [روم ۴۳ (۳۰:۴۳)]. ددې سورت په بل ځای کې راغلي: «فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ...» «نو ته خپل مخ حنیف او حق پالي دین ته نیغ او قایم کړه. [دا دین] هماغه الهي فطرت دی چې خلک یې د هغه پر بنسټ [له نشته] پنځولي دي، د الله پنځګري به هم هېڅ بدلون و نه مومي همدا ولاړوونکی او قیّم [=وده ورکوونکی] دین دی...»[روم ۳۰ (۳۰:۳۰)]. د یوسف په سورت کې الله تعالی فرمايي: «..أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ..»«...هغه [الله] حکم کړی چې له هغه پرته د چا بندګي مه کوئ، همدا سم او ولاړوونکی دین دی...»[یوسف۴۰(۱۲:۴۰)] نو پر دې بنا پخپله قرآن ته قیّم ویل کیږي، د دین اصل هم قیّم دی، د قرآن د ورقو او پاڼو محتوا او آیتونه هم قیّم دي.

نو له «کتب قیّمه» څخه مقصد هغه فرمانونه او ثابت احکام دي چې پر فطرت او عقل متکي او ټېکاو دي چې د وګړو او ټولنې د عقلونو او نفسونو، مستقیم، سم او نیغ ساتونکي، ولاړوونکي او اوچتوونکي دي. پسته له دې چې د سپېڅلو او مطهرو صحیفو تلاوت د وهمونو بندونه او جندرې خلاصې کړې او د کفر او شرک زنګ او خیري یې پاک کړل او د عقل سترګې یې د انساني ارزښتونو او د جهان د پیل او پای، د خپل حق او د نورو د حقونو دپېژندنې لپاره پرانېستلې. قیّمه کتب د حق، عدل او خیر د قیام لپاره استعدادونه او ځواکونه پاروي او هڅوي. او د هغوی د تحقق لپاره یې ولاړوي، سره له دې چې حق او عدل لکه څنګه چې ښایي تحقق ونه مومي او باطلو او ظالمو ځواکونو هر ځای نغاړلی وي او پر هر ځای واکمن وي. دا د الهي دین برهان او دلیل دی چې لکه د لاربښودو منارو او د لارې د مشالونو په څېر، د ژوندانه په ساحلونو او کږلېچونو کې تل قائم او دائم دي، او نور هر څه چې د دین په نامه د داسې آغیز لرونکي نه وي تحریف شوي، ککړ، ګډوله او د بشر د لاس جوړونه ده. دا د پیغمبرانو د رسالت اصل او د هغوی د اعجاز بیّنه ده، چې د پیغمبرانو مکتب هراړخیز له چاپېرياله اوچت، ثابت او

د واقعي تربيت او روزنې مکتب دی. او نور فلسفي، تربيتي او ټولنيز مکتبونه يو اړخيز، ژرتېري، چاپېريال ته محکوم او محدود دي.

کله چې «بيّنه» دا ډول يو رول او نقش بايد سرته ورسوي، په تېره بيا چې دا ډول سوالونه د هغه د مخاطبينو له لور مطرح شي چې: چا او له کومه ځايه يې دا ډول بيّنه راوړې ده؟ د هغه ماهيت څه دی؟ محتوا او مضمون يې څه ډول دی؟... او په همدې دليل له لومړني آيت وروسته چې د «بيّنه» انقلابي او بدلوونکی نقش د اهل کتابو او مشرکينو د کافرانو په اړه بيانوي، سمدلاسه ورپسې پورتنيو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي.

لومړی: دا چې د بيّنه راوړونکی [چې د هغه خپلې کړنې هم بيّنه دي] د خدای له لورې يو استازی دی [رسول من الله]. نو پر دې بنا، نه يې هغه پخپله جوړه کړې ده او نه د هغې په وړاندې کولو، کومه اجوره غواړي.

دويم: دا چې د «بيّنه» ماهيت، پاک کوونکي [يا پاک شوي] پيغامونه دي چې هغه رسول [استازی] يې تلاوت کوي [يتلوا صحف مطهره]، هم د شرک او کفر او نفاق له خيرو، ناولتياو او ککړتياو څخه، د نفسونو پاک کوونکي دي او هم له ځان غوښتنو او د خاورې او وينې په تعصباتو له ککړو اندونو او وهمونو او افکارو څخه پاک دي. پر دې بنا هغه ته ميل نه يوازې له عزت او استقلاله استعفا نه ده چې عيناً له اسارت او ککړتيا څخه آزادي او د عزت موندل دي.

دريم: ددې «بيّنه» محتوا، استوارې او ټيکاو ليکنې دي [فيها كُتُبٌ قَيّمه]، مخکې مو وويل کتب په قرآني اصطلاح کې، هغو اصولو او احکامو ته ويل کېږي چې د قانون او مقرراتو په بڼه ليک او ثابتېږي. او ديني واجبي او فريضي جنبه پيدا کوي لکه: کتب عليكم الصيام، کتب عليكم القصاص، کتب عليكم...الوصية، کتب عليكم القتال، «قيّمه» هم د هاغه کتاب استوارونکی او ولاړوونکی صفت دی چې فرد او ټولنه، حق او عدل ته په قيام کې هڅوي او انګېزه ورکوي.

پر دې بنا د عباداتو او هاغو احکامو مجموعه چې د پيغمبرانو په توسه د شريعت په بڼه خلکو ته تلاوت کېږي، پخپله د همدوی په خاطر او د همدوی د ګټې او مصلحت لپاره ددوی د بالقوه استعدادونو د فعليت رسولو او قيام لپاره دي، چې خدای تعالی هيڅکله دغو عبادتونو ته نياز او اړتيا نه لري. هاغه انسان چې په «احسن تقويم» کې پنځول شوی او د حق په لار کې د «قيام» او د الله په لور د ولاړېدو بهترين استعداد لري. بې له شکه د هدايتګرو ولاړوونکو لیکنو [کتب قيّمه] او ټيکاو ساتونکي آئين [دين قيّمه] اړمن دی چې له هغه سره د «قيام» په غځېدو او تل پاتېدو کې مرستندوی وي.

د «جمعه» په سورت کې هم همدې بنسټيزې نکتې او خبرې ته اشاره کوي، وايي: هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ، الله د خلکو له منځه يو رسول غوره کوي او ګوماري چې: يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ، يعنې د پيغمبر لومړنۍ دنده داده چې د الله آيتونه پر خلکو ولولي. د هغه دويمه دنده: يُزَكِّيهِمْ ده کله چې يو چا، الله د هغه له ټولو صفتونو سره وپېژاند او هاغه عظمت، سترتوب، سپېڅلتيا او قداست يې په هغه کې وليد، پخپله هم تزکيه کېږي او په دې هڅه او لټه کې کېږي چې له ټولو ککړتياو، ځان غوښتنو او منّيتونو خپل ځان پاک کړي. درېمه دنده: يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَه، [جمعه۲ (۶۲:۲)] د کتاب او حکمت تعليم دی. دلته هم: يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً. مُّطَهَّرَةً، همدغې تزکيه ته اشاره ده. هلته: وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وو او دلته: فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ. قيّم ليکنې چې انسانان پر پښو دروي، ولاړوي او پاځوي. منحرفان، بې لارې خلک او مرتجعان او هاغه کسان چې حقايق پټوي سخت او لاينفک پر خپلو عادتونو پورې نښتي دي تر دې بريده چې د وجود برخه يې ګرځېدلې. نو، څه ډول کېدی شي وښورېږي؟ ددې سوال ځواب دادی چې بايد د الله له لورې روښانه پيغام راشي چې په حرکت يې راوړي.

اوس، ددې پوښتنې د مطرح کولو ځای دی چې: نو ولې تورات او انجيل ټول خلک له ځايه پانځول؟ يا ولې قرآن دا ډول تأثير پر موږ نه لري او وروسته پاتې يو؟. زموږ د بحث موضوع دلته نور اديان نه دي چې هغوی هم خپلې توضيح ته ضرورت لري، خو د خپل ځان په اړه بايد ووايو چې تر پنځمې او شپږمې پېړۍ پورې واقعاً اسلامي ټولنې له خپل پخواني چاپېرياله رابېلې شوې وې او سترې ودې او رشد ته رسېدلې وې. او اسلامې ټولنې تر دې بريده پرمختللې ګڼلې کېدې چې د اروپا پوهنتونو به د اسلامي نړۍ له پوهنتونو لکه د خراسان (اوسني افغانستان)، پارس [ايران]، بخارا، بغداد، مصر، مراکش، تونس او اندلس (پخوانۍ اسپانيا) څخه الګو او نمونې اخيستلې. د اسلامي هيوادونو کتابتونونو پر هاغه مهال او موقع څلورسوه، پنځه سوه زره ټوکه کتابونه درلودل، په داسې حال کې چې د اروپا سترو کتابتونونو زيات نه زيات له دوه درې زرو ټوکو څخه زيات کتابونه نه درلودل. د علم په زده کړه کې به يې د مسلمانانو له روشونو او طريقو پيروي او پليونې کوله. دا هغه څيزونه دي چې هغوی پخپله ليکلي. فرانسوي ليکوال «روژه ګارودي» په خپل کتاب کې ليکلي، د هاغې زمانې د غرب ځوانانو هيله او ارزو دا وه چې اسلامي هيوادونو ته سفر وکړي، چون په غرب کې له تمدنه هيڅ خبره نه وه. دوی حتا حمام نه درلود او له نظافت او روغتيا ساتنې څخه هيڅ خبر نه ول. په هاغه زمانه کې اسلامي هيوادونه د علم له لحاظه د وسمهال لوېديز په څېر ول چې لکه وسمهال

د ختيز او مسلمانو ځوانانو ذهنونه يې خپل لور ته اړولي او پرې عاشقان دي او تر اغيز لاندې يې دي او د ځان خوا ته يې راکاږي. په هغې زمانه کې قضيه په ټوليزه توګه اوښتې او پرمخه وه. په ټولو علمي رشتو [لکه طب، کيميا، فيزيک، رياضي، فلسفه، نجوم] کې مسلمانان تر ټولو لوړ او مخکې ول. او په دې ټولو رشتو کې يې د بنسټګرو حيثيت درلود، نو آيا دا له دې لامله او اغېزه نه وو چې «كُتُب قَيِّمَةٌ» هغوی په ښېو ودرول، ولاړ يې کړل او مخکې يې کړل.

د ابن سينا کتابونه شپږ پېړۍ په اروپا کې تدريس کېدل. تاسو د پاريس په پوهنتون کې د دوو کسانو مجسمې وينئ چې د نړۍ د طب د علم د پلرونو په توګه هلته اېښوول شوي دي: يوه د زکريا رازي او بله د ابن سينا ده. دا دوه کسان په ټوله نړۍ کې د طب د علم د بنسټ ايښوونکو په توګه پېژندل کيږي. د کيميا د علم بنسټګران اصلاً مسلمانان دي او په ډېرو علمي رشتو کې د بنسټ ايښوونکو مقام لري. د رياضي او الجبر په اړه خو خبره کورټ څرګنده ده خو اوس مسلمانان له خپلو تېرو ناخبر دي ، خو په هر حال د تاريخ پوهان او څېړندويان ترې آګاه دي او په خپلو کتابونو کې يې ليکلي دي.

د مسلمانانو دا فعلي وضع چې وينو د رکود او لټۍ په حالت کې دي، لامل او سبب يې همدا د هغوی د خپلې دينداري فعلي وضع ده نه د هغوی دين، ځکه چې دين خو هماغه دی او بدل شوی نه دی. نو دا چې وروسته پاتې يو، زموږ د ديندارۍ په ډول پورې اړه نيسي او زموږ اوسنۍ ديندارې تر پوښتنې لاندې راوړي. زموږ د ديندارۍ ډول او طرز دی چې وروسته پاتې والی يې را په برخه کړی دی. دا جوته ده چې، د لوېديزو څېړونکو او ټولنپېژندونکو شمېرنې او نشريات څرګندوي په کومو هيوادونو کې چې مسيحيت ځواکمنتر دی، په ځانګړې توګه کاتوليکان، له اخلاقي پلوه، له اروپايي لائيک هيوادونو، لکه اسکانديناوي هيوادونو څخه وروسته پاتې دي. که شمېرنو ته پاملرنه وکړو څرګنديږي چې مثلاً د جنين سقط او ليرې کونه او په شرابو او خمر او غلا او اخلاقي فساد اخته کسان په هغو ځايونو کې په ځلونو ډېرتر دی. يعنې هر څومره چې ډېر مسيحي تر دي، ددې پر ځای چې په اخلاقو او انسانيت کې پورته اوسي په ځلونو ټيټ تر دي. نو، دا تلقي له مسيحيته او دا روش او طريقې چې اوسنيو کليسايي دستګاه ګانو خپلې کړې دي، مناسبه او مطلوبه نتيجه يې نه ده لېږدولې.

که دا کليسايي تعليمونه هماغه د انجيل او تورات تعليمونه، او دا لېکنې «صُحُف مُطَهَّرَة» او «كُتُبٌ قَيِّمَةٌ»، دي، نو دوی بايد تر نورو پورته او اوچتتر اوسي. زموږ په اړه هم همدا حکم صادق دی. موږ مسلمانان هم همدا ډول يو. نو، يا آيا بايد ووايو د آسماني کتابونو مطلبونه او

ديني زده کړې اشتباه دي؟ يا دا چې موږ اشتباه کوو او زموږ درک او پوهه له دين غلطه ده. دا خو تېر تاريخ څرګنده کړې چې تل داسې نه وه او په يو دوران او زمان کې قضيه په بشپړه توګه پرعکس وه. په تېر کې داسې وضع نه وه چون هغوی له خپل دين سره تړاو درلود او په مؤمنانه توګه به يې پرې عمل کوه، نو څه وشول چې نننۍ وضع پرمخ شوه؟ که په خپل دين کې شک نه لرو، نو بايد پر خپل ځان شک وکړو؛ شک پر خپل درک او اخېستنه له دين څخه او کوم تعريف مو چې له دينه کړی دی او کوم عمل چې د دينداري په نامه سرته رسوو. دا ديندارۍ نه ده. دا يو بل څيز دی چې د دين په نامه وړاندې شوی، موږ چې د دين په نامه له ښوونې او روزنې مخنېوی کوو يا لږ تر لږه د دين په نامه د ښځو له زده کړې او کار مخنېوی کوو دا نو سل په سلو کې د دين د تعليماتو د اصل او روحيې ضد دی، دا «قَيِّمَةٌ» نه دی په پښو درووکی نه دی، ولاړوونکی نه دی، ټولنې ته وده نه ورکوي.

---

۲ ـ «صُحُف» د صحيفې جمع، هاغه څه ته چې خپور وور او هموار وي، ويل کېږي. لکه دايروي هموار لوښی [زخرف۷۱ (۴۳:۷۱)]، د انسان مخ يا هر هاغه څه چې د رسولانو پيغام پرې لېک کېده؛ د موسی له ډېرينو لوحو نېولې [نجم۳۶ (۵۳:۳۶)]، تر د ليکل شوو آيتونو پر لرګي او څرمن او د چارۍ پر هډوکو او کاغذ او داسې نورو. د انسان د عمل لیک هم په مجازي او تمثيلي توګه صُحُف نومول شوي دي [تکوير۱۰ (۸۱:۱۰)]، که څه هم د ثبت او ضبط د کيفيت د بڼې پوهېدل يې زموږ لپاره ناشوني دي، ښايي د کامپيوتر مانيتور او نور الکترونيکي اوزار چې وسمهال ترې ګټه اخلو، زموږ سترګو ته د انځورونو او ليکنو د سمدلاسه حاضرولو لپاره د يو مثال په توګه وويل شي. خو د «مُطَهَّرَه» صفت له تعصبونو، قومي ، نژادي، طبقاتي، او جنسيتي اوچت ګڼنو، او دښمنۍ، ځناورتوب، او نورو اخلاقي رذيلتونو څخه د هاغه رسول د پيغامونو د پاکوالي او سپېڅلتيا ښکارندوی دی. او متعالي ارزښتونو او لوړو معنوي موخو او هدفونو ته د انسان بلونکی دی.

۳ ـ تلاوت، له قرائت سره ظريف توپير لري. د تلاوت په مفهوم کې، له هغه څه چې لوستل کېږي تبعيت او پلیوني او د هغه له حکم څخه پيروي نغښتې ده. او له پوهې او په هغه کې له تدبر څخه زيات، عمل کول او د هغه په چار راوړل اهميت لري. تلاوت معمولاً د ديني کتابونو په اړه کارول کېږي، نه په هره ليکنه او کتاب کې. نو پر دې بنا هر تلاوت قرائت هم دی، خو هر قرائت تلاوت نه ګڼل کېږي.

۴ ـ قيام، اوچتېدل د کېناستو په مقابل کې دي چې کېدی شي حقيقي يا مجازي وي. «قيّم دين» لکه د يتيمانو لپاره د قيّم وکړی په څېر، د بندګانو د مصلحت او هدايت متولي، او د هغوی د معنوي استعدادونو د غوړېدا د ټيکاو لامل کېږي. د «قَيِّم» صفت شپږ ځله په قرآن کې د دين په وصف کې راغلی[انعام۱۱۱ (۶:۱۱۱)، توبه۳۶(۹:۳۶)، يوسف۴۰(۱۲:۴۰)، روم۳۰(۳۰:۳۰) او ۳۴(۳۰:۳۴)، او بيّنه ۵ (۹۸:۵)]او دوه د هاغه

کتاب په وصف کې چې پر پيغمبر نازل شوی دی [کهف ۲ (۱۸:۲) او بيّنه ۳ (۹۸:۳)]. په قرآن کې کېنل شوي حقيقتونه د آدمي پر عقل او فطرت ټيکاو دي او د انسان استعداد د قسط، عدالت، خير او خدمت قيام ته پاروي او وده ورکوي.

---

وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ﴿۴﴾

او هغوی چې کتاب [تورات او انجيل] ورته ورکړل شوی دی، ډلې ډلې نه شول مګر وروسته له دې چې ځرګند دليلونه [او نبي] هغوی ته راغلل[۵] [چې د هغوی د اختلاف او دښمنۍ او ډلې ډلې کېدلو لامل دهغوی خپل خصلتونه ول، نه الهي کتاب ځکه چې:].

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴿۵﴾

په داسې حال کې چې دوی ته له دې پرته امر نه وو شوی، چې دوی به[يوازې] د الله بنده ګي کوي په داسې ډول چې دين يې په حق پالې[۶] توګه هغه ته [له شرک او ځان غوښتنو څخه] خالص کړی وي،[۷] او لمونځ [صلاة = الله ته مخ کونه او له الله سره اړيکه] قائم کړي او زکات[=ټولنيز حقوق] ورکړي، او همدا ټيکاو[او اوچتوونکی]دين دی

| وَ | مَا تَفَرَّقَ | الَّذِينَ | أُوتُوا الْكِتَابَ | إِلَّا | مِن بَعْدِ | مَا جَاءَتْهُمُ | الْبَيِّنَةُ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| او | ډلې ډلې نه شول | هغوی چې | کتاب ورکړل شوی | مګر | وروسته له دې چې | هغوی ته راغی | روښانه دليل |

| وَ | مَا أُمِرُوا | إِلَّا | لِيَعْبُدُوا | اللَّهَ | مُخْلِصِينَ | لَهُ | الدِّينَ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| او | فرمان نه وو ورکړل شوی | مګر | دا چې عبادت وکړي | الله [ته] | خالصوونکی | دهغه لپاره | دين ـ کړنه |

| حُنَفَاءَ | وَيُقِيمُوا | الصَّلَاةَ | وَيُؤْتُوا | الزَّكَاةَ | وَذَلِكَ | دِينُ | الْقَيِّمَةِ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حق پالونکي | او قائم کړي | لمونځ | او ورکړي | زکات | او دا | دين [دی] | سم ـ ټيکاو |

---

اوس توضيح ورکوي چې ولې؟ کوم يو علت موجب شو چې اهل کتاب، پورته نه ولاړل او وده يې ونکړه. لومړی دا چې تر منځ يې اختلاف پيدا شو: وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ هاغو کسانو چې کتاب مو ورته ورکړ، بيّنه مو ورکړه، يعني يهوديان او مسيحيان، وَمَا تَفَرَّقَ، متفرق نه شول، خپاره نه شول، إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ، مګر وروسته له دې چې بيّنه ورته راغله. د قرآن په نورو آيتونو کې ځرګندوي، له هغې جملې دا چې: بَغْيًا بَيْنَهُمْ. [بقره ۲۱۳ (۲:۲۱۳)]

«بَغْي» يعني تجاوز او ډېر غوښتنه، ستم او د بديو غوښتنه؛ له دې لامله چې هر څوک غواړي رئيس اوسي، قدرت او مقام غواړي، واک او ځواک غواړي، شته زېرمه کوي، يعنې ټول هغه بشري خصلتونه په عمل کې پلي کوي، دا په داسې حال کې چې خبر دي، نه دا چې په حق او باطل پوه نه شي او بې خبره اوسي؛ اختلافونه له دې نه دي را ولاړ شوي چې مطلب روښانه نه وو او ابهام يې درلود چې عذر راوړي او ووايي کوم کتاب چې موږ ته رالېږل شوی د پوهې وړ نه دی. وايي نه، ستونزه له کتابه نه ده ستونزه پخپله له دوی ده، ټول يې عالماً او عامداً د قدرت سودا لري. قرآن په ځلونو ځلونو مسلمانانو ته ويلي دي چې:...وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ. له مشرکينو مه اوسئ. مشرکان کوم کسان دي؟ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ هغه کسان چې په دين کې په تفرقه اخته شول او هغه يې ببل ببل او ټوټه ټوټه کړ. وَكَانُوا شِيَعًا شيعه شيعه او ډلې ډلې شول «شيعه» يعني پيرو. دا ددغه صاحب پيرو، هغه د هاغه صاحب پيرو، دا د فلاني په خط کې دی او هغه د بيستاني په خط کې دی. يو ددې ملا امام پسې دی، هغه بل د هاغه ملا امام پسې دی. دا له دې مدرسې دی او هغه له هغې مدرسې. دا ديو بندي دی او هاغه پنج پيری دی. شيعه دی او سني دی، داسې نور ډېر، حيدري او نعمتي، معتزله او اشاعره او سل ګونه نورې فرقې. په واقعيت کې دوه اويا ملته. «... وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ. مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ.»[روم ۳۱(۳۰:۳۱) او ۳۲].«..او له مشرکينو مه اوسئ. له هاغو کسانو چې خپل دين يې فرقه فرقه کړ او [د مختلفو اشخاصو او ايزمونو په نسبت] پيروان شول [په داسې ډول چې] هره ډله هر څه چې [له حقيقته] له ځان سره لري پرې خوښمن دي». هر حزب او هره ډله هر څه چې لري پرې خوښ دي پرې وياړنه کوي. موږ د کتاب طرفداران يو؛ موږ د ولايت طرفداران يو؛ يو وايي زه ددغه صاحب پيرو يم، بل وايي زه د هاغه صاحب پيرو او مريد يم. هر څوک په يو څه پورې او يو چا پورې نښتی دی او خپل زړه يې په هغې خوشحاله کړی دی. قرآن وايي: وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا. ټول په قرآن منګولې ولګوئ. د الله په «حبل»، «دخدای حبل» يعني هغه رسۍ چې خدای تعالی ستاسو د ژغورنې لپاره را اچولې ده. ټول هغه ونيسئ. وَلاَ تَفَرَّقُواْ [آل عمران ۱۰۳(۳:۱۰۳)] او خپاره او متفرق مه کېږئ. مسئله مه شخصي کوئ، مه قومي کوئ، تبريزکوئ يې مه، ملي کوئ يې مه. دا ملت عراق دی، موږ افغانان يو، هغه پاکستانی دی؛ هغه بل ايرانی دی؛ دا زموږ په ګوند کې دی، هغه زموږ په ډله کې دی، هغه بل په بله کې. دا ټول يو خوا ته پرېږدئ. يوه موخه، يو هدف، يوه رسۍ، ټول په هغې منګولې ښخې کړئ. په ځلونو په قرآن کې د تفرقې مسئله راغلې چې دلته يې د مثال په توګه ذکر کوو: وَلاَتَكُونُواْ كَالَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَاخْتَلَفُواْ مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْبَيِّنَاتُ [آل عمران ۱۰۵(۳:۱۰۵)]

مسلمانانو ته يې په ځلونو ويلي چې تاسو د مخکينيو په څېر مه اوسئ چې د تعاليمو او روښانه دلايلو له موندلو وروسته يې بيا هم اختلاف وکړ. د «بيّنه» په سورت کې هم غواړي ووايي چې د بيّنه له راتلو سره سره بيا هم په پښو وندرېدل، اوچت نه شول، يا تر ودرېدو وروسته بېرته کښېناستل او له لارې پاتې شول ځکه چې دوی په منيّت او ځان غوښتنو اخته شول.

دا پوښتنه په دې زمانه کې، په ځانګړې توګه زموږ د ملت لپاره د اسلامي حکومتونو له تجربې وروسته او د ځينو ملايانو او روحانيونو او په اصطلاح ديني عالمانو په اړه چې قدرت او واک ته ورسېدل او په قدرت او ځواک يې ډېره وهلې کېدی شي ډېره مطرح شي چې څنګه کېدای شي يو شمېر کسانو چې يو عمر درس يې لوستی دی، د هاغه څه په اړه چې تبليغ يې کړی ډېر په آسانۍ هغه ټول له دنيايي ګټو څخه قربان کړي!؟ ډېری خلک داسې انګيري چې دين هم لکه د فزيک او کيميا او تاريخ او جغرافيا په څېر دی چې پرې پوهېدل الزاماً پابندي او پليوني پرې رامنځته کوي، هغوی له دې انګېرنې سره عملاً د انسان ميل خير او شر ته او دوه ګوني جاذبه د رحمان او شيطان لور ته او د انسان اختيار او انتخاب نا لبدلی نيسي. په داسې حال کې چې دين له الهي قانون پرته نور هيڅ نه دی چې لکه د بشري قوانينو په څېر دوه لوريز دی او يوازې د هغه اصولو ته په غاړه ايښوونه او تمکين اغېز کوي، پر دين پوهېدنه لازمي ده، خو کافي شرط يې، تقوا او د دين اصولو ته په خالصانه توګه غاړه ايښوونه او د الهي رضا لپاره پرې عمل کول دي، او يوازې پوهېدنه پرې کافي نه ده.

## له بيّنه څخه د اووښتلو او اعراض لامل:

له دا سې ښو اغيزو او پايلو سره چې د «بيّنه» په اړه وګڼل شوې، کېدی شي دا پوښتنه هم مطرح شي چې که داسې ده، نو ولې لرغونې «بيّنې» چې د تېرو پيغمبرانو په توسه وړاندې شوې دي تېکاو پاتې نه شولې؟ او که دا ټول بيّنات د واحد خدای تعالی له لورې دي، ولې يې مخکينی امتونه طهارت او قيام «صحف مطهره، کتب قيمه» ته و نه رسول؟ ددې سوال ځواب په څلورم او پنځم آيت کې په دا ډول وايي: هغه کسان چې کتاب ورته ورکړل شوی دی، په تفرقه اخته نه شول، مګر وروسته له دې چې بيّنه هغوی ته راغله، په داسې حال کې [له دې سره سره] چې له خدای سره له شرکه خالي د خالصانه عبادت پرته ورته امر نه وو شوی، او د نمونځ اقامه کول [ولاړول] او د زکات ورکول دي چې ددې ټولو مجموعه قايم او ولاړوونکی دين دی.

پورتني آيتونه په ښکاره توګه څرګندوي چې د «ولاړوونکي دين» [دين القيمه] څخه مطلب، ظاهري آداب او تشريفات او يا د مناسکو بڼه او شعائر نه دي، هغه څه چې ولاړوونکي دي

[ذلک دين القيمه] د دغو اعمالو او آدابو روح او محتوى ترې مقصود او منظور دى چې د خداى تعالى په خالصانه عبادت کې [إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ]، د يو الله نمانځنه او له شرک څخه په تلپاتې توګه ځان ساتنه او اعراض دى [حنفاء]، له خداى تعالى سره اړيکه او هغه ته پاملرنه [صلوة] او نفساني تزکيه د مال څخه د آزادېدو له طريقه او اړمنو ته يې ورکونه [وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ]، په څرګنده توګه ځليږي. او که اهل کتاب ولاړېدو او ټېکاو [قيام او استوارې] ته نه دي رسېدلي دا ځکه چې له دې لارې نه دي تللي.

[په دين کې د اخلاص د موضوع په اړه د څېړنې لپاره، د زمر سورت [۱ تر ۱۴] او مؤمن [۱۴ تر ۶۵] آيتونه د ډېرې زده کړې وړ دي.]

البته په دې سورت کې، چې د آيتونو لنډون او د قافيې انسجام او آهنګ ته په پاملرنه، مکي ښکاري، کوم ضرورت نه وو چې د اهل کتاب اخلاقي او ټولنيزې ځانګړنې چې اړيکې او آشنايي له هغو سره به وروسته پيښ شي، په تفصيل بيان کړي. نو پر دې بنا پر همدې بسنه کوي چې هغوى له دې سره سره چې فرمان ورکړل شوى وو داسې عمل يې وکړ [وَمَا أُمِرُوا إِلَّا...] او د توحيدي عمل پر ځاى د شرک پر تفرقه اخته شول [و ما تفرق الذين...] فعلاً د مسلمانانو لپاره ددې درس ضرورت دى چې خپل وحدت د توحيد تر سيورې لاندې وساتي او البته که ټولنه يې [وروسته په مدينه کې] تشکيل کړه له ټولنيزو آفتونو به هم درس واخلي. او په همدې دليل هم د مدينې په دوران کې ددې تفرقې لامل چې له ډېر غوښتنو او د ځان اوچت ګڼلو [بغى] د نورو پر حقوقو له تجاوز سره، او د دنيا د متاع [قدرت او ثروت] پر سر له رقابت څخه پرته نور هيڅ نه دى، د هغوى لپاره تبيين کوي:

«وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ...»[بقره ۲۱۳ (۲:۲۱۳)]

«په هغه [تورات] کې په اختلاف اخته نه شول مګر هم هغوى چې کتاب ورته ورکړل شوى وو، [هغه هم] وروسته له دې چې روښانه آيتونه ورته راغلل. [ولې؟] د هاغو تجاوزناکو اړيکو پر دليل چې د هغوى تر منځ موجودې وې....»

«وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ...» [آل عمران ۱۹ (۳:۱۹)] ـ «هغو کسانو ته چې کتاب ورکړل شو پر اختلاف اخته نه شول مګر وروسته له دې چې علم ورته راغى، د هاغه تجاوز له کبله چې په هغوى کې معمول وو...» او په همدې ډول نور ډېر آيتونه. او د کفارو لپاره د بيّنه له راتګ څخه مطلب هماغه بيانونه دي چې د تېرو انبياؤ په کتابونو کې راغلي ول، او يا د هغوى د انبياؤ کلام د الهي بيان په توضيح کې دى، لکه څنګه چې په لاندينې آيت کې يې بيّنه پر همدې دوو ډولو بيانونو تفسير کړې، فرمايي:

«وَلَمَّا جَاءَ عِيسَى بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ. إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ. فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ...»[زخرف۶۳(۴۳:۶۳) ـ ۶۵]. «او هغه مهال چې عيسى له څرګندو نښو [او دليلونو] سره [د هغوی هدايت ته] راغی، ويې ويل: په رښتيني توګه مې تاسو ته حکمت [=اخلاق] راوړی چې تاسو ته [حق او باطل والی د] هغه څه څرګند کړم، چې پکې اختلاف کوئ؛ نو له الله پروا کوئ او زما [نه د مرتجعو متوليانو] اطاعت وکړئ. بېشکه همدا الله دی چې زما رب دی او ستاسو رب [= د اختيار خاوند] دی. نو [د بې لارو ديني متوليانو د بې ځايه تقليد او اطاعت پر ځای] د هغه بنده ګي [=اطاعت] وکړئ. همدا سمه لار ده [= خالصه توحيدي لار]. خو [له توحيده منحرفو] ډلو په خپلو منځو کې اختلاف وکړ...»

په همدې ترتيب الله تعالی په بل آيت کې فرمايي:

«تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَكِنِ اخْتَلَفُوا فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ وَمِنْهُمْ مَنْ كَفَرَ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ» [بقره ۲۵۳ (۲:۲۵۳)]

«له دې رسولانو مو ځينو ته پر ځينو فضيلت [او غوراوی] ورکړی؛ له هغوی [يو] هغه څوک وو چې الله ورسره خبرې وکړې او ځينې يې لوړو درجو [او پوړونو] ته اوچت کړل او عيسى د مريم زوی ته مو روښانه نښې ورکړې او په سپېڅلي روح [روح القدس] مو ځواکمن کړ [له دې فضيلتونو سره سره ډېری له پيروانو يې يو تر بله اختلاف وکړ] او که الله غوښتلی، هاغه کسان چې له هغوی وروسته راغلل، له هاغو روښانه نښو [او دليلونو] وروسته چې هغوی ته راغلي ول، يو تر بله به يې جګړه نه وای کړې. او ليکن اختلاف يې وکړ. په پايله کې، ځينو له هغوی ايمان راوړ او ځينې يې کافر شول. او که الله غوښتلی يو تر بله به يې شخړې نه کولی، خو الله هاغه څه ته چې [په خپل حکمت] اراده وکړي سرته رسوي».

او د همدغو تاريخي تجربو له کبله او د مسلمانانو د عبرت له پاره دی چې هغوی الهي رسۍ [قرآن] ته پر چنګ وهلو او له تفرقې څخه ځان ژغورلو او ډېره کولو ته رابولي «وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا...»[آل عمران ۱۰۳ (۳:۱۰۳)]، او له هاغو کسانو سره له ورته والي څخه يې، چې د بيّنات له موندنې وروسته په اختلاف اخته شول بچ ساتي. «وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ...» [آل عمران ۱۰۵ (۳:۱۰۵)]

او د دين په اقامه [ولاړولو]، امر او په هغه کې له ټوټه ټوټه کېدو نهی کوي«..أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ..»[شوری۱۳ (۴۲:۱۳)]مهمتر او د پاملرنې وړ دا چې د پيغمبر اړيکه له هاغو کسانو سره چې په دين کې په تفرقه او تشيع [ډلې ډلې کېدو] اخته شول، په ټوليزه توګه پرې کوي.

د سورت د نوم او د هغه د سياق سره متناسب او ددغو آيتونو: صحفاً مطهره، کتب قيمه، مخلصين له الدين حنفاء و ... چې په ټوله کې پاکي او خلوص او له عيب او نقص او ککړتيا څخه بېلوالی، سپېڅلتوب او مبرا والی څرګندوي.

## پيغمبر اکرم ته د قرآن تسلّی ورکول

دلته کېدی شي پوښتنه مطرح شي چې ولې ټولو مشرکينو او کتابيانو ايمان رانه وړ؟ په ځانګړې توګه دا پوښتنه د اهل کتابو په اړه ډېره پر ځای ده، ځکه چې مشرکين بې کتابه او بې اطلاع خلک ول. خو د کتابيانو په اړه قرآن فرمايي:« ... يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ...» [بقره۱۴۶ (۲:۱۴۶) او انعام ۲۰ (۶:۲۰) ] «... دوی داسې دا پيغمبر پېژني لکه څنګه چې خپل بچيان پېژني...» له دې سره سره ولې دوی ټولو ايمان رانه وړ؟ [دا آيت لږ تر لږه د کتابيانو د علماو په اړه صدق کوي].

قرآن دلته يو بل اصل ته اشاره کوي. چې هغه اصل د بقره په سورت کې هم په څرګنده توګه ذکر شوی دی. په پورته کې هم ورته لنډه اشاره شوې خو دلته د موضوع د مناسبت په لحاظ نسبتاً ډېره برخه د آيت راوړو په دغه مشهور آيت کې الله تعالی فرمايي: «كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ..» [بقره ۲۱۳ (۲:۲۱۳)].«خلک [د اختيار له پېرزوېنې او موهبته مخکې، د غريزو په پيروۍ کې] يو واحد اُمت [= په يو څېر] ول، نو [د انسانانو د اختيار او هبوط له پيل سره، او د شيطان په تحريک د اختلاف او دښمنۍ له پيدا کېدو سره،] الله پيغمبران [نېکانو ته] د بشارت ورکوونکو [په نقش کې] او [ستمګارانو ته] ګواښ ورکوونکي وګومارل او له هغو سره يې کتاب [=د عدالت انډولوونکي اصول] په حقه ولېږه چې د خلکو تر منځه په هاغه څه کې چې اختلاف يې کاوه نياو وکړي. او په هغه [کتاب] کې يې اختلاف وکړ ــ [نه دا چې په ناپوهۍ کې، بلکې آګاهانه او] وروسته له دې چې روښانه [اوڅرګندې] نښې هغوی ته رسېدلې وې ــ [ولې!؟] پر هاغه تجاوز [د روږدي توب] له لامله چې تر منځ يې [شتون] درلود...»

دا آيت هم، د قرآن ډېر له معنا ډکو او سترو پېچلو آيتونو څخه دی. له دې آيته استنباطيږي چې په پيل کې چې بشريت پيدا شو ټول خلک يو امت، يوه ډله، يو رنګ او يو ډول ول؛ تر دې چې

بشريت سوکه سوکه ـ په اوسني اصطلاح ـ پر مخ ولاړل او همدا چې پر مخ ولاړل دا د يو رنګي حالت په څو رنګۍ بدل شو. د ګټو پېښه رامنځته شوه، کله چې د ګټو پېښه په منځ کې وي د حقوقو پېښه، د اختلاف پېښه او د ظلم او عدل او د نورو پر حقوقو د تجاوز پېښه را اوړده شوه. دلته نو الله تعالى ددغو اختلافونو د له منځه وړلو لپاره، د شريعت لرونکي پيغمبران راوليږل، پيغمبرانو د خلکو د اختلافونو د حل لپاره له ځان سره قانون راوړی وو. پر دې مهال قرآن وايي: د پيغمبرانو له راتګ وروسته بل اختلاف پيدا شو چې ددې اختلاف موضوع همدا دين وو چې پيغمبرانو راوړی وو؛ يعني تر دې مخکې خلکو د ګټو او منافعو پر سر يو تر بله اختلاف درلود او پيغمبران ددغو اختلافونو د حل لپاره راغلل او برياليي هم شول، خو د پيغمبرانو تر راتګ وروسته بل اختلاف پيدا شو چې موضوع يې همدا دين دی چې پيغمبرانو راوړی، اختلاف پخپله د دين په اړه؛ يعني خلک د همدغه دين په اړه چې پيغمبرانو راوړی، ډلې ډلې او فرقه فرقه شول. هيڅ يو پيغمبر داسې قانون او شريعت را نه وړ مګر دا چې د هغوی له تللو وروسته پيروان او پليونان يې څو لاسه، ټوټې ټوټې او ډلې ډلې نه شول، لکه څنګه چې په يهوديت، مسيحيت او حتا خپله په اسلام کې يې په څرګنده توګه وينو.

هغه لومړنی اختلاف، د مادي ګټو پر بنسټ وو خو دا دويم اختلاف همدغو ديني علماو، ملايانو او دين چلوونکو منځته ته راوړی او راوړي. دا دويم اختلاف، داسې اختلاف دی چې د بيّنه او روښانه دليل له راتګ وروسته پيدا کيږي، د بېلګې په توګه لکه همدا له قرآن وروسته د اختلاف په خبر. قرآن دغه اختلاف «بَغْى» [بَغْيًا بَيْنَهُمْ] نوملی دی.

دلته ـ لکه څنګه چې ځينو له مفسرينو ويلي دي ـ ګواکې قرآن غواړي پيغمبر ته تسلّي او ډاډګېرنه ورکړي. وايي: سره له دې چې ته الهي بيّنه يې که ټولو کتابيانو او مشرکينو ايمان را نه وړ. خواشينی او زړه تنګی مه اوسه! په تېر کې هم خلکو تفرقه او اختلاف پيدا نکړ مګر له بيّنه او ښکاره دليل وروسته [يعني د بيّنه او ښکاره دليل له راتګ وروسته يې اختلاف وکړ]. وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ. هغوی چې کتاب ورته ورکړل شو، ډلې ډلې نه شول مګر وروسته له دې چې بيّنه ورته راغلې وه. نو که ستا خبره هم ټولو خلکو له يو مخې ونه منله او ايمان يې را نه وړ، څه نوې خبره نه ده په تېره کې هم په همدې ډول وه.

د « الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ» په اړه ويل کيږي چې مطلب يې همدا اهل الكتاب دي، خو ځينو مفسرينو [لکه د الميزان تفسير] ويلي دي چې: «الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ» غير له اهل الكتابه هم دي. اهل الكتاب يعنې همدا مشهور ملتونه [يهود او نصارا] دي، او احتمالاً مجوس او صابئين هم

په کې شامليږي، خو په « الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ» کې ټول ملتونه شامليږي حتی مشرکين؛ چون مشرکين سره له دې چې په هغه مهال کې چې مشرکين ول هيڅ آسماني کتاب يې نه درلود بلکه هېر کړي يې ول چې آسماني کتاب لري ځکه چې قرآن په بل ځای کې فرمايي: په هستۍ کې هيڅ ملت داسې نشته چې يو آسماني کتاب هغوی ته نه وي راغلی. نو پر دې بنا په « الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ» کې هغوی هم شامليږي.

## الهي بيّنه له خلکو څه غواړي؟

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ. فرمايي اوس وروسته له دې چې بيّنه اقامه شوه «او پيغمبر چې قرآن لولي» او «د قرآن آيتونه» الهي بيّنه ول، دې الهي بيّنه له هغوی څه غوښتل؟ يو مهال که داسې وي چې الهي بيّنه راځي او يو سخت او شاقه تکليف ورکوي، يا له خلکو داسې يو څيز غواړي چې د هغوی ژوند ګډوډ او ستونزمن کړي؛ که داسې وي نو په دې حال کې د خلکو خبره دد ې دوو مسئلو په اړه دايره ده چې ددوی ژوند به ګډوډ کړي که د پيغمبر خبره ومني او [يا دا چې د هغه خبره و نه مني او خپل عادي ژوند ولري]که داسې وي کېدی شي سړی تر يوې کچې خلکو ته حق ورکړي چې دا، يو آسان چار نه دی؛ چې ګواکې پيغمبر راغلی وي او هغه ته ووايي چې: ته چې ښځه او بچيان او نور کسان لرې، دنده لرې، کار او تجارت لرې، دا ټول پرېږده، غواړو له يو بل سره ولاړ شو د غره په لمن کې يوازې موږ واوسو تر هاغې چې مړه شو. خو پيغمبر راغلی له دوی هاغه څه غواړي چې نه يوازې سخت او شاق نه دي، بلکې د هغوی د همدغې ژوند اصلاح کوونکي او سموونکي هم دي.

مګر پيغمبر له هغوی څه غوښتي؟ لومړی د نمنځنې په اړه يې ويلي: « له الله پرته د بل هيڅ موجود نمنځنه مه کوئ» مګر آيا دا کومه بده خبره ده؟! وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ يوازې د الله نمنځنه وکړئ او پرته له الله د هيڅ څيز او هيچا نمنځنه مه کوئ او دين، لاره او سرتېښې يوازې د الله لپاره سرته ورسوئ او بس. حُنَفَاءَ؛ «حَنيف» [د «جَنيف» په مقابل کې] يعنې حقوال. [تمايل په دوه ډوله دی: تمايل له حقه باطل ته، چې «جَنافت» ورته وايي، او بل تمايل له باطله حق ته، چې «حَنافت» ورته ويل کيږي.] په بل تعبير: اعتدال، تعادل او منځلارۍ ته تمايل چې اصلاً همدا حق ته تمايل دی «حنافت» بلل کيږي او افراط او تفريط [زيادښت او کمښت] ته تمايل «جنافت» بلل کيږي [وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا] [بقره ۱۴۳ (۲:۱۴۳)].

دې «بیّنه» له خلکو څه غوښتي؟ لومړی دا چې له الله پرته دې د هیڅ موجود عبادت او نمنځنه ونشي، خضوع او سرټیټی یوازې او یوازې د هغه پر وړاندې. دویم دا چې حقوال او حقپال اوسئ، معتدل او منځلاري اوسئ. دریېم: وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ. نمونځ چې د بنده او خالق تر منځ تړاو او پیوند دی اقامه کړئ. ولاړ یې کړئ. باید وویل شي چې د نمونځ ولاړولو څخه موخه تش په دې څرګند ډول د نمونځ کول او ویل نه دي یعنې نمونځ په داسې ډول وکړئ چې د نمانځه حق ادا شي؛ یعنې نمونځ د زړه له حضور سره، له خشوع، خضوع او تفکر سره.

څلورم: وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ. نه وایي «ټول مال مو ورکړئ» بلکې وایي مال مو چې وده کوي، له ودې یې یو څه، تر یوې کچې نورو ته ورکړئ. د نیّت، فکر او روح له پلوه، مخلصانه عبادت، ورپسې حقوالی او حقپالی پاتې کېدل؛ په عبادي اعمالو او کړنو کې له الله سره د تړاو او پیوند جوړونه، چې د نمانځه اقامه یې د څرګند مصداق په توګه ذکر شوی دی؛ او د خلکو سره د تړاو پیوند په اړه یې د زکات ورکول [له خلکو غوښتي دي.] وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ او دا داسې یو دین دی چې قیّمه لیکنې تاسو ته بیانوي، داسې یو څیز دی؛ آیا دا بده خبره ده؟

نو دا آیت په مجموع کې دې ته اشاره کوي چې د توحید دین له هاغو حکمونو سره چې بشري ټولنې ته یې ورکوي د هغوی د چارو او ژوندانه د مصالحو ساتونکی دی، هاغه دین چې قرآن کریم یې متضمن دی، دا قرآن چې د آسماني کتابونو تصدیق کوونکی دی، مهیمن، رښتینی شاهد او له هر ډول ډاره په امن کوونکی دی «وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ ...»[مائده ۴۸(۴۸:۵)]، همدا ډول لکه څنګه چې په لاندیني آیت کې یې په کافي څرګنده او وړ طریقه بیانوي، دې ته اشاره کوي چې د الهي سنتو پر اساس، خدای تعالی ټول بشر ته هدایت کوي، اړینه ده حجت یې پر ټولو هغو کسانو چې کافر شوي او د هغه بلنه یې نه ده منلې، که هغه د اهل کتاب له کافرانو وي او که له مشرکینو، ګواکې ځینې له کفارو د بیّنه تر آغیز لاندې راغلي نه ټول یې، خو دا معنا په قطعي توګه درک کولی شو چې د دعوت او بلنې په اړه د بعضو له بعضو نورو سره هیڅ توپیر نشته، او دعوت د ټول بشر لپاره عام دی.

«فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ ...» [روم۳۰(۳۰:۳۰)]. «نو [د هغوی لارې ته په نه پاملرنه] ته خپله مخ کړنه دین [=الهي قانون] ته په حقپالي توګه قایمه کړه. [دا دین] هماغه الهي فطرت دی چې خلک یې د هغه پر بنسټ [له نشته] پنځولي، الهي پنځونه کې ادلون بدلون نشته [=د انسان فطرت ثابت دی]، دا دی ولاړوونکی دین [= وده ورکوونکی]...»

نو اصلي ستونزه او مشکل څوک دی يا چرته دی؟ولي دينداران په ټاکل شوي حالت کې نه دي؟
«وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ» وَمَا أُمِرُوا هاغه کسان چې هغوی ته کتاب ورکړل شوی دی، مؤظف شوي نه دي، دنده نه ده ورکړل شوې: إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ، مګر دا چې د الله خالصانه عبادت وکړي. يعنې هغه څه چې الله يې فرمان ورکړی او غوښتي يې دي او کوم شرط يې چې ټاکلی دا دی چې دين خالصانه د هغه لپاره وغواړي. څنګه کېدی شي چې له موږ يو شمير وغواړو ټولني ته وده او لوړتيا ورکړو، خو پخپله موږ او تاسو خالص نه اوسو او هم خدای وغواړو او هم خرما؟ خپل ځان خدای نمانځی وکڼي، خو د فلاني آغا مريد اوسي، د هغه پسې اوسې، له خپلو منيّتونو پسې اوسې، ګوندي، ډله ايزې، نژادي او ملي تعصبونه ولرې. دا خو خالص دين نه دی. دين بايد يوازې هغه ته خالص کړې. په دين کې خلوص، يعنې ټول يو زړه او يو لوری، مخ پر يوې موخې او يو هدف؛ ټول «قُرْبَةً اِلی الله»، الله ته، د نژدې کېدلو لپاره، حقيقت ته، عدالت ته د نژدې کېدلو لپاره، نه د خپل نفس، خپل ځان يا د خپل قوم او قبيلې لپاره. قرآن په ځلونو تذکر ورکړی چې تاسو د خلکو لپاره بېلګه، الګو، نمونه، مثال، اسوه او سر لاري اوسئ. دحق پلیوني اوسئ او حق والا اوسئ، که څه هم ستاسو د خپل ځان پر ضد وي، ستاسو د مور او پلار، او خپلوانو پر ضد وي. آيا نه يې دي ويلي چې تاسو عدالت پسې اوسئ که څه هم ستاسو د خپل ځان په زيان اوسي. تاسو بايد د خدای لپاره شاهدان اوسئ.

زموږ د اختلاف منشأ او څټه داده چې زموږ په کار کې خلوص نشته. مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ. و مو ويل چې:«حُنَفَاء» د «حَنِيف» جمع دی، «حنيف» هغه چاته ويل کېږي چې حق ته متمايل دی او تل له باطله واټن نيسي. د حنيف ريښه «حَنَف» ده. حَنَف او جَنَف يو د بل ضد دي.

جَنَف د هغه چا صفت دی چې ورو ورو باطل ته تمايل پيدا کوي. خو حنيف هغه څوک دی چې تل، د مهال وېش سره سم ورځ تر بلې خپل ځان پاکوي او د توحيد پر لور مخکې ځي، د توحيدی فکر کولو او اندنې پر لور، او د خدای لپاره د خالص کېدلو پر لور. «حَنِيف» يعنې په تلپاتې توګه حق والا؛ هغه څوک چې په ژوندانه کې پرله پسې الله په نظر کې لري. دا صفت کابو، لس دولس ځله په قرآن کې ذکر شوی دی چې نهه، لس ځله يې د حضرت ابراهيم په اړه دی: حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ. [آل عمران ۶۷ (۳:۶۷)] ابراهيم «حنيف» وو؛ يعنې په خپل ټول وجود حق ته تسليم وو. بله هيڅ انګيزه په هيڅ بڼه په هغه کې نه وه او له الله سره په شراکت قايل نه وو او د الله له رضا پرته يې هيڅ نه غوښتل. له دې يوې موخې او انګېزې پرته په هغه کې هيڅ نه ول.

هیڅکله نه شي کېدی چې هم سړی وغواړي الهي کار وکړي او هم خپلو نفساني غوښتنو ته پاملرنه ولري. په ټولنیزو خدمتونو او کارونو کې د الهي قربت په موخه شرکت وکړي، خو همدا چې دده قدر یې ونه پېژاند، قهروکړي او پرېږدي، لاړ شي.یا دا چې په هغه کار کې غواړي رئیس اوسې او ټول له ده دستور واخلي. دا ټول د شرک مصداقونه دي. هم غواړم په دیني کار کې شرکت وکړم او هم خپلې ځان غوښتنې وساتم هم غواړم «قربةً الی الله» کار وکړم او هم کله چې مجلس ته داخلېږم په هاغه پورته کې دې راته ځای راکړي، دا نو ټول په یو ځای نه جمع کېږي.

دا ساده مثالونه دي چې ویل یې باید موږ متوجه کړي. موږ فکر کوو کله چې په یو دیني کار کې وارد شولو، نور نو په کې شرک نشته. دا ډول نه دی. شرک د مؤمنانو لپاره دی، نه د غیر مؤمنانو لپاره. اصولاً هغه څوک په شرک اخته کېږي چې په دیني کار کې وارد شوی دی. شرک د ایمان آفت دی. پیغمبر(ص) وایي شرک د مؤمن په وجود کې داسې پټ دی لکه په تیاره شپه کې په توره تیږه د مېږي د تګ په څېر. د شرک مسئله دومره حساسه ده. په هر خدایي کار کې چې سړی یې سر ته رسوي باید پاملرنه ولري چې یوازې او یوازې د خدای لپاره وي او خپل منیّت ته پکې دخالت ورنکړي. د بېلګې په توګه که یوه خیریه ودانۍ جوړوې نه ښایي خپل نوم هلته تابلو کړي چې ما دا مدرسه یا مسجد جوړکړی دی. دا کتاب ولیکم چې ټول پوه شي زه ډېر باسواد سړی یم. دا وینا وړاندې کړم چې خلک پوه شي زما د علم او فضل پایه څومره تر نورو اوچته ده. دا پیسې ورکوم چې ټول خلک پوه شي چې زه هم خیّر انسان یم. دا ټولې ککړتیاوې دي. دا هم نه دی چې ووایو په پای کې لس په سلو کې کې یې شرک دی، دا خو دومره ډېر نه دی نو مهم نه دی، نه، همدا لس په سلو کې کار خرابوي چون شرک د خالص عمل آفت دی.

نو پر دې بنا، د مؤمن لپاره اصلي مسئله تل د شرک مسئله ده. وایي ددې لامل چې پر پښو اوچت نه شول یا تم او ځای پرځای پاتې شول دادی چې د خدای په اطاعت پسې خالصانه نه ول. هغوی ته ویل شوي ول: لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ. صلات قایم کړئ [نمونځ ولاړ کړئ] او زکات ورکړئ. «زکات» د مال او ژوند په اړه له حرصه د پاکېدو عامل او لامل دی او له دنیا غوښتنې څخه آزادېدل دي. وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ. او دا ولاړ او ټېکاو دین دی چې تاسو پورته وړي. نو، تش د دین په نامه خپل کار کول او خپل ځان په دین پورې تړل سړی پورته نه وړي، ټولنه پورته نه وړي، ټولنه له ټیټ او ناوړه حالته نه اوچتوي. قیّمه دین هغه دی چې که خالصانه او د حقیقت په جهت کې پرې عمل وشي، د بشر په ژوند کې به ستره اغېزه ولري. د مؤمن منطق دادی چون حق کار دی سر ته یې رسوم، نه دا چې زما یا زما

د قوم او ډلې په ګټه دی. دا هم چې وايو «د خدای لپاره» بايد پاملرنه وکړو چې الله زموږ کار ته اړتيا نه لري. نو که ويل کيږي کار دې يوازې د خدای لپاره سر ته ورسيږي، دا مطلب نه دی چې د خدای د ذات لپاره بايد کار وشي. «د خدای لپاره» معنا داده چې د اصولو او اخلاقياتو او ارزښتونو په خاطر بايد کار سرته ورسيږي. دا بايد زموږ د عمل لپاره ملاک وټاکل شي. ايثار ښه دی، ګذشت او تيريدنه ښه ده، رحمت او لطف ښه دی. دا ارزښتونه دي. د شرف پاس درلودل ښه دي. د علم او حکمت زده کړه ښه ده. په ژوندانه کې د انسان د ويلاړ او تصميم نيونې ملاک بايد دا څيزونه وي، نه قومي محدودې او تړلې مسئلې او په واقعيت کې شخصي مسئلې.

اوس خپلې ټولنې ته پاملرنه کوو چې موږ په خپله ټولنه کې څه ډول دينداري لرو. ښه، دا څومره خالصاً د الله لپاره ده؟ کله چې يو څوک په قبرونو پورې نښتي وي او ډېرو، ضريح او د قبر پردو او شناختو پورې ځانونه مږي او ځينې خو لا جمکران ته ځي او خپلې اړتياوې او ضرورتونه ليکي او په څاه کې يې اچوي او ځينې د پير بابا او مير بابا له قبرونو څخه د خپلو ستونزو حل غواړي، دا ټول له خدای تعالی سره شرک راوړل دي. دوی ته مو له خدای تعالی سره پيوند ورکړی دی. ښه نو نېغ په نېغه، مستقيماً له خپل پالونکي څښتنه يې وغواړه. الله تعالی څه اړتيا لري چې انسان خپلې دوعاګانې او اړتياوې څاه ته واچوي او يا اشخاصو ته متوسل شي. دا ستر اشخاص الګو دي؛ عملي نمونې دي: د ژوندانه اسوه او سرلاري دي، نه دا چې د حاجت او اړتيا پر مهال هغوی پسې شې او خپل حاجتونه له هغوی غواړې.

د «دين» لغت اصلاً يعنې جزا، بدله او پايله يعنې د خپلو کړنو په مقابل کې چې هرڅه لاس ته راوړې. د «دين» اصل معنا يعنې همدا. يعنې هر څه چې غواړې او د هر نعمت، پاداش او بدلې هيله چې لرې، مستقيم پالونکي څښتن ته هيله من اوسه او له هغه يې وغواړه. کوم دين چې ټول يې ظاهري او بهيز آداب او تشريفات دي، هيڅ مسئله نه حل کوي د هيڅ ستونزې چاره پرې نه کيږي. مخکې مو اشاره وکړه چې ولې په دې زمان او روزګار کې ديندارن وروسته پاتې دي، اوس که يهوديت دی او که مسيحيت او که اسلام، زموږ ټوله ستونزه په هماغه نسبت کې ده چې موږ له دين سره پيدا کړې ده. وسمهال ستر ديني متفکران د دين له رسمي حوزې بيرون دي. د خدای پېژندنې او ديني او توحيدي معارف غوره، بهترين او اغيزناک کتابونه د همدغو متفکرانو او انديالو په قلم ليکل کيږي، يعنې له کليسا او کنښه څخه د بيرون انديالو په قلم. ولې دا رسمي ديندارن پړاوونه شاته دي؟، ددې لپاره دا کوم دين چې فعلاً موږ وينو او په دا شکل چې وسمهال يې په دنيا کې ښه نيولې ده، له اوسنۍ بشري ټولنې څخه وروسته پاتې دی.

دين په فعلي بڼه دننني بشرد اړتياوځوابوونکی نه دی؛نه دا چې ددين اصل ځوابوونکی نه اوسي، نه، دغه دين چې موږ دا بلا پرې راوړې ده او تر دې بريده مو ککړ کړی دی او خپل افکار او رای مو د دين په نامه خلکو ته قالب کړي دي، او نوم مو پرې دين ايښی دی، دا نو که يهودي دی که مسيحي دی او يا هم مسلمان يې، دا که شيعه دی که سني، دا تول. دا نو نور له عملي کړنو غورځېدلي او ځواک يې له لاسه ورکړی دی. خدای تعالی بايد پخپله زموږ نياو ته ورسيږي او يوه تصفيه او پاکونه په دين کې وشي او زموږ نيمګړتياوې اصلاح کړي او ديناري خپلې اصلي سرچينې او خپل اصل او اساس ته، او په واقعيت کې خپل خلوص ته بېرته ورستون شي.

---

۵ ـ په قرآن کې ډېر زيات آياتونه [له هغې جملې: هود ۱۱۰(۱۱:۱۱۰)، فصلت ۴۵(۴۱:۴۵)، سجده ۲۵(۳۲:۳۵)، جاثيه ۱۷(۴۵:۱۷) او ...] چې د فرعون له شره تر نجات وروسته د بني اسرائيلو د قوم د اختلاف په اړه يې خبره کړې او ټينګار يې کړی دی چې دا اختلاف د شريعت او تورات په اړه د بې خبرۍ او نا آګاهۍ له لامله نه دی، بلکې له انتظار پرته له پوهې او آګاهۍ وروسته يې اختلاف وکړ [آل عمران ۱۹(۳:۱۹)، شوری ۱۴(۲۴:۱۴)، او جاثيه ۱۷(۴۵:۱۷)] او د «بينات» موندل [آل عمران ۱۰۵(۳:۱۰۵) او بقره ۲۱۳(۲:۲۱۳)] د «بغی» خوی يعنې ډېرغوښتنه او د مال او موقعيت پر سر رقابت دی.

دا پوښتنه په دې زمانه کې، په ځانګړې توګه زموږ د ملت لپاره د اسلامي حکومتونو له تجربې وروسته او د ځينو روحانيونو او په اصطلاح ديني عالمانو په اړه چې قدرت او واک ته ورسېدل او په قدرت او ځواک يې ډېره وهلې ډېر مطرح کيږي چې څنګه کېدای شي يو شمېر کسانو چې يو عمر درس يې لوستی دی، د هاغه څه په اړه چې تبليغ يې کړی ډېر په آسانۍ له دنيايي ګټو څخه قربان کړي!؟ ډېری خلک داسې انګيري چې دين هم لکه د فزيک او کيميا او تاريخ او جغرافيا په څېر دی چې پرې پوهېدل الزاماً پرې پابندي او پليوني رامنځته کوي، هغوی له دې انګېرنې سره عملاً د انسان ميل خير او شر ته او دوه ګوني جاذبه د رحمان او شيطان لور ته او د انسان اختيار او انتخاب نا لېدلی نيسي. په داسې حال کې چې دين له الهي قانون پرته نور هيڅ نه دی چې لکه د بشري قوانينو په څېر دوه لوريز دی او يوازې د هغه اصولو ته په غاړه ايښوونه او تمکين اغېز کوي.

۶ ـ حنيف د «حَنَفَ» له ريښې، له ګمراهۍ او بې لارېتوب څخه هدايت او له کوږوالي څخه د سموالي او استقامت لور ته د ميل د انګېزې او پاروني بيانوونکی دی. د قرآن د بيان له مخې، چې حنيف وي له دې سره معادل دی چې مشرک به نه وي [حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ ... ـ حج ۳۱ (۲۲:۳۱)] او يا په عبادت کې اخلاص [وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ ... ـ بيّنه ۵ (۹۸:۵)]. د حَنَفَ مخالف لغت، جَنَفَ دی چې يو ډول معکوس تمايل څرګندوي.

ډېری انسانان د حق په اړه ساړه او يا خنثی دي او ډېره لږه انګېزه او احساس د هغه د لټولو او ميل لپاره لري. خو « حنيف » ورته او يو څېر او مشبه صفت دی چې حق ته تمايل لري او ورځ تر بلې دا تمايل مخ په زياتېدو

وي، او په يوه وګړي کې د داسې يوه حالت پر ثبوت دلالت کوي. په قرآن کې ممتازه او وتلې نمونه حضرت ابراهيم خليل (ع) دی چې داسې يو حالت د هغه په وجود کې ثابت، کلک او استوار شوی وو، او باورونه يې له ستورو، سپوږمۍ او لمر نمانځنې څخه نيولې تر د ربّ العالمين ته په مخ کوونې، او الله ته په تسليميدو او د زوی د قربانۍ تر بريده له هماغه زلميتوبه د عمر تر پايه د هغه دخالصې حق لټونې ښکارندوی دي . په دوو پاڼې موردونو کې [ روم۳۰(۳۰:۳۰) او يونس ۱۰۵ (۱۰:۱۰۵)]، د«حنيفاً» لغت، د الله د دين پر لور حق واله مخه نيونه څرګندوي:«فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا».

۷ ـ « د الله په عبادت کې د دين د خالص کولو» موضوع ۱۲ ځله په قرآن کې تکرار شوې ده چې په خدای نمانځنه کې د دغه چار فوق العاده اهميت څرګندوي او د «زمر» په سورت کې يې تر نورو سورتونو زيات [۴ځلې په: ۲، ۳، ۱۱، او۱۴ آيتونو کې] دغه چار ته اشاره کړې ده. د «دين» د کليمې لپاره په پښتو ژبه کې جامع ژباړه نه لرو. ويل شوي دي چې د دين معنا، جزا او بدله ده، خو د دين د لغت بل اړخ، «اساسي قانون او حکومتي نظام» دی [يوسف ۷۶(۱۲:۷۶)] چې د هغه پر اساس ښاريانو ته سزاورکول کيږي. د «ايدئولوژي» لغت هم چې له لويديزو وارداتي کليمو څخه دی، له ورته اړخونو څخه د دين په معنا دی. په هر حال، خدای تعالی ته د دين خالصول، په عبادت کې له شرک او غير خدايي انګېزو څخه ځان ساتنه ده.

---

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿۶﴾

بېشکه له اهل کتابو او مشرکينو هغه کسان چې [له حقه د عملي انکار له لامله] کافر شول، د دوزخ په اور کې به تلپاتې وي، همدوی د مخلوقاتو بدترين دي[۸]

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ﴿۷﴾

[خو] په تحقيق هغو کسانو چې ايمان راوړی او ښې چارې يې کړي دي، همدغه کسان له غوره مخلوقاتو څخه دي.[۹]

| إِنَّ | الَّذِينَ كَفَرُوا | مِنْ | أَهْلِ الْكِتَابِ | وَالْمُشْرِكِينَ | فِي | نَارِ | جَهَنَّمَ | خَالِدِينَ | فِيهَا | أُولَئِكَ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په تحقيق | هغو کسانو چې کفروکړ | له | کتابيانو | او مشرکينو | په | اور | [د] دوزخ | تلپاتي | په کې | همدا ډله |

| هُمْ | شَرُّ | الْبَرِيَّةِ | إِنَّ | الَّذِينَ آمَنُوا | وَعَمِلُوا | الصَّالِحَاتِ | أُولَئِكَ | هُمْ | خَيْرُ | الْبَرِيَّةِ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دوی [دي] | بدترين | مخلوق | په تحقيق | هغو کسانو چې ايمان راوړ | او و يې کړل | ورکارونه | همدا ډله | دوی [دي] | بهترين | مخلوق |

---

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ.

بله دا چې له دې بيّنه [له راتګ] وروسته او پسته له دې چې دې بيّنې داسې څرګندې او روښانه لارې خلکو ته وړاندې کړې چې په هغوی کې هيڅ ډول سختې، ستونزه، صعوبت، عسر او

حرج نشته او د دوی د دنيا او آخرت نېکمرغۍ او سعادت په کې نغښتی دی، هغه څوک چې سرغړونه کوي، که له مشرکينو وي يا له کتابيانو وي، جهنميان دي او د خدای تعالی ډېر بد او ناوړترين مخلوقات دي. په مقابل کې يې: إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ. هغو کسانو چې ددې بيّنې له کتنې او مشاهدې وروسته يې ايمان راوړ او نېک، وړ، او صالح عمل سرته ورسوي بهترين د مخلوقاتو دي.

د انسان مسئله د دوو حالتونو تر منځ د بدترين مخلوق په توګه او د بهترين مخلوق په توګه دايره ده او د وسط بريد يا حد حالت شتون نه لري. انسان نه شي کولی ووايي زه غواړم د آس په څېر اوسم چې يو متوسط مخلوق دی. انسان يا کېدای شي بهترين مخلوق اوسي، چې همداسي خلق شوی چې د مخلوقاتو بهترين اوسي، يا کېدی شي اسفل السافلين اوسي، چې د «والتين» په سورت کې ورته اشاره شوې ده «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ. ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ. إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ» [تين ۴ (۹۵:۴) او ۵ او ۶].
په تحقيق او بې له شکه چې انسان مو د [استعداد] سمونې په ډېر غوره جوړښت [او بڼه] کې پنځولی دی [=ودې او تکامل ته د پورته کېدونکي استعداد والا]. بيا مو هغه [د غورزېدنې له پړاوونو] له ټيټو ځخه ټيټ [د جاذبې پړاو] ته ور وګرځاوه. مګر هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نېک کارونه يې کړي؛ نو هغوی ته ناپايه اجر دی.

نو له اهل کتاب او مشرکينو هغه ډله چې د حقيقتونو پټوونکي دي او حقايق ناليدلي نيسي، ددوی سرليک، اور والا [سور اور] او دوزخي دی. خَالِدِينَ فِيهَا، او په هغه کې د تل لپاره دي. «خلود» يعنې اوږده او پرله پسې موده. أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ. دوی بدترين «بريّه» دي. د «بريّه» ريښه د «تبرئه» او «برائت» او «تبرّي» له کليمو سره يوه ده. کله چې وايي يو څوک له فلاني توره تبرئه شو يعنې هاغه تور نور هغه پورې نه نښلي، له هغه يې برائت پيدا کړی يا مبرّا شوی دی «بريّه» هم يعنې يو پنځېدلی [يو مخلوق] چې له هره عيبه او نقصه مبرّا دی.
يعنې خدای تعالی تاسو پرته له عيب او نقصه، پنځولي ياست او پيغمبر او بشپړ کامل کتاب يې تاسو ته درکړی دی. ښه نو ولې له داسې وضعيت سره مخامخ يو؟

خدای تعالی خو انسان «خيرُالبريّه» پنځولی، نو ولې«شرُّ البريّه» شوی دی؟ ولې بدترين مخلوق کيږي؟ أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ. په قرآن کې په ځلونو راغلي چې خدای تعالی انسان ته د سترګو، غوږونو او د عقل نعمت ښښلی دی، خو يو شمېر کسان له هغو ګټه نه اخلي. و أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ او دوی لکه د څناورو په څېر دي ، بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ [اعراف ۱۷۹ (۷:۱۷۹)]

بلکه تر دې هم بتر او لار ورکي دي. دوی له ځناورو بتر دي. بلکې ډېر لار ورکي دي، هغوی غافلان دي. نه غواړي ووايي چې ځناور بد دي. وايي انسان چې مقام يې له ځناورو ډېر اوچت دی، که شناخت او پېژندنه ونلري او ونه غواړي چې بصيرت پيدا کړي، په حقيقت کې له ځناورو ډېر ټيټ دي.

او دا حقيقت د انفال سورت په ۲۲ آيت کې دې ته په ورته الفاظو ذکر شوی دی: «إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ» [انفال ۲۲ (۸:۲۲)] تر ټولو بد خوځنده ګان د الله په نزد هغه کسان دي چې نه اوريدونکي غوږونه لري، نه ويانده ژبه او نه وينبه اندنه.

تر بحث لاندې آيت تر دې پورته او پرمختللی مطلب هم لري؛ دا چې دا ډول انسان يې تر ټولو بد مخلوق معرفي کړی دی، او دا په حقيقت کې د دوزخ په اور کې ددوی د خلود لپاره د دليل د بيان په منزلت کې دی.

هغوی ولې د مخلوقاتو بدترين نه وي؟ چې د سعادت او نېکمرغۍ ټولې دروازې يې پر مخ پرانېستل شوي، خو د کبر او غرور او عناد او لجاجت له مخې يې له پوهېدو او آګاهۍ سره سره مخالفت ته اوچت شول.

ورته وايي ته چې انسان يې او دا نعمتونه او توکي ټول لرې او بيا هم کوم ځای ته نه رسيږې، نو ته له هغوی ډېر لار ورکی او ګمراه يې. که کوم با استعداده محصل ناکام شي، هغه ته ويل کيږي ته له هاغه محصل سره چې د هوش سطحه يې له تا ټيټه ده او له فقيرې او بې سواده کورنۍ څخه دی فرق لرې، نو ته ولې له دې دومره استعداد سره او د يوې باسواده کورنۍ او امکاناتو په شتون کې ناکام شوې؟ نو ته له هغو ټيټ يې. نو پر دې بنا، هغه څوک چې دا دومره امکانات په واک کې لري او له هغوی ګټه نه اخلي، طبعاً بدترين مخلوق بايد وګڼل شي. چون له دې دومره بيروني لاملونو او توکو لرلو سره نه دی توانېدلی ترې ګټه پورته کړي.

خو پر عکس يې: إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ. هغوی چې د ايمان او امنيت په سيېڅلتون کې داخل شول او نېک او وړ کارونه يې سرته ورسول د مخلوقاتو له بهترينو څخه دي موږ مخکې ويلي چې د «آمنوا» معنی دا نه ده چې يوازې ووايو ايمان مو راوړی او نوم مو مسلمان دی. د پېژند پاڼېزې مسلمان يا مسيحي، واقعي مسلمان يا مسيحي نه دی. رښتينی او واقعي ايمان راوړل يعنې د ايمان په چاپېريال کې داخلېدل دي. د خدای تعالی له نومونو يو «مؤمن» دی: «...الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ...» او بل نوم يې «سلام» دی، چې د «حشر» سورت په ۲۳ آيت کې راغلی. دغو الهي نومونو ته په پاملرنه، ايمان راوړل، يعنې خپل ځان د الهي

ايمان د وړانګو په وړاندې نېول او د صلح او سلام او امنيت نمونه کېدل دي. «هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ»[حشر ۲۳ (۵۹:۲۳)].

«مؤمن» سړی يعنې هيڅوک له هغه په ويره او ډار کې نه دی. له هغه هيڅ شرّ نه ويني. أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ. دا راز بندګان د خدای تعالی بهترين بندګان دي. پاملرنه وکړئ چې هغوی ته «بدترين» وايي او دوی ته «بهترين» وايي: خَيْرُ الْبَرِيَّةِ. يعني ظاهراً حتا له پرښتو هم پورته دي.

نو پر دې بنا، انسان د خير او شر په هر دواړو مسيرونو کې په نهايت کې دی: د ښېګڼې نهايت او د بدۍ نهايت. هغه بدترين بريّه او د خدای تعالی مخلوق او دا تر ټولو نېک او بهترين د هغوی دی يا کولی شي چې وي. د مرحوم شريعتي په وينا، هم د خدای تعالی تر روحه د اوچتېدو استعداد لري او هم د لجن تر بريده د ټيټېدو استعداد لري: صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ. [حجر ۲۶ (۱۵:۲۶) او ۲۸] انسان، له داسې لجنه پنځول شوی چې ډېر وخت پرې تېر شوی او بوېناکه او ګنده شوی دی. وايي انسان مو له دې «صَلصال» يا لجنه جوړ کړی دی. يعنې له يو لورې يې منشأ په أَعلَي عِلِّيين کې ده او کولی شي هلته ځايګی ونيسي: وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ [آل عمران ۱۳۹ (۳:۱۳۹)] او له بل لورې په أَسْفَلَ سَافِلِينَ. [تين ۵ (۹۵:۵)] کې. يا ډېرو ټيټو درجو او پوړيو ته سقوط کوي يا «أعلي علّيّين» ته او ډېر اوچت مقام ته عُلُوّ کوي.

له دې آيتونو په ښه توګه استفاده کېږي چې: په عالم کې د هيڅ مخلوق، صعودي او نزولي قوس د انسان په کچه نه دی، که د ايمان او صالحو عملونو لرونکی وي د خدای تعالی تر ټولو اوچتترين مخلوق دی، او که د کفر، ضلالت، لجاجت او عناد لار ووهي، داسې سقوط کوي چې د خدای تعالی تر ټولو بدترين او ټيټترين مخلوق کېږي. د «صعودي» او «نزولي» قوسونو تر منځ دا ستر واټن سره ددې چې حساسه او خطرناکه مسئله ده، د انسان د مقام او تکامل د وړتيا پر ستروالي دلالت کوي، او طبيعي ده چې د داسې فوق العاده استعداد او قابليت تر څنګ، د فوق العاده تنزل او سقوط امکان هم شته.

## سرليکونه

په مخکينيو آيتونو کې د اهل کتاب امتونو د انحراف او بې لاريتوب له څرګندولو وروسته، دادی د دوو ډلو سرليک چې «شر البريه او خير البريه» نومول شوي دي بيانوي. د «برّيه» کليمه چې يوازې په همدې سورت کې راغلې، د خدای مخلوق ته د هغه د بې عيب او بې نقص والي د

کمال له جهته وينا کوي؛ـ د بريه ريښه له برئيه څخه ده چې برائت او تبرئه او برى هم له همدې ريښې دي، يعني له عيبه پاک او اړخن او سمبال ـ منظور دادی چې که کوم انحراف دی، د بنده د کړنو له لامله حاصل شوی او که نه خالق يې هغه د ودې او ژغورنې لپاره د سمبالنې او استعداد په کمال کې پنځولی دی.

په دې آيتونو کې، اهل کتاب او مشرکين وروسته له «کفر» يعني له ناشکرۍ او ناسپاسۍ وروسته تر ملامتۍ لاندې نيول شوي دي. هغو کسانو چې د خدای کتاب [تورات] جدي او د پام وړ و نه ګاڼه، او د ولاړوونکي دين او خپل رسول قدر يې و نه پيژاند، په واقعيت کې يې «دنعمت کفران» کړی او کفر ته کاږه شول [...الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ.... ] ددغه مطلب ذکر ددې لپاره دی چې مسلمانان عبرت واخلي او د «کتب قيمه» شکر پر ځای کړي، چې حضرت رسول يې هغوی ته تلاوت کوي [رَسُولٌ مِنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً، فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ] او خالص توحيدي ولاړوونکی دين[...ذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ] پر ځای کړي او د داسې نعمتونو له کفران څخه ځان وژغوري. او په حقيقت کې د قدر او علق له سورتونو پسې ددې مطلبونو ذکرول يوه خاصه معنا افاده کوي.

اما د دا ډول کافرانو سرليک چې «شر البريه» نومول شوي دي، د جهنم په اور کې يې ځرک ورکوي، او ددې پر عکس، نېکوکار مؤمنين چې «خير البريه» يې نومولي دي، او په تلپاتې ابدي جنت کې چې نهرونه او ويالې يې تر لاندې بهيږي ځرګندوي.

هاغه څه چې د پاملرنې وړ دی، همدا د «ايمان او نېک عمل» شرط دی چې د تين په سورت کې په اسفل سافلين کې له سقوط څخه د ژغورنې د رسۍ په توګه معرفي شوې وه [ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ، إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ...] او د عصر په سورت کې، په ژوندانه کې له زيان او خسران څخه د نجات د نور په توګه [وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ...].

کومه ظريفه او د پام وړ نکته چې د دغو دوو ډلو د سرليکونو په منځ کې شتون لري، د مؤمنينو په اړه د «خالدين فيها» جملې ته د «ابداً» د کليمې اضافه کول دي، چې په نورو سورتونو کې هم په ټوليزه توګه همداسې دي، «...جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا..» [نساء ۵۷ (۴:۵۷)او۱۲۲] ـ [مائده۱۱۹ (۵:۱۱۹)] ـ [توبه۲۲ (۹:۲۲)او۱۰۰] ـ [تغابن۹ (۶۴:۹)] ـ [طلاق ۱۱ (۶۵:۱۱)].

د کافرانو په اړه له څو محدودو موردونو پرته چې کفر ، پر خلکو له ظلم سره، او د خدای له لارې يې منع کول، يا غير له خدايه په ولايت نېول، او يا له خدای او رسوله سرغړونه ورسره مل شوې ده. «إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا...» [نساء ۱۶۹ (۴:۱۶۹)] ـ [احزاب ۶۵ (۳۳:۶۵)] او [جن ۲۳ (۷۲:۲۳)].

د تغابن سورت ۹ او ۱۰ آيتونه عيناً د بيّنه سورت په څير دا دواړه ډلې يوه په بلې پسې د ابداً د کليمې په اړوند له ذکر شوي توپير سره بيان کړې دي. «...وَيُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ»[تغابن۹] ـ «وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ خَالِدِينَ فِيهَا...»[تغابن۱۰ (۶۴:۱۰)].

په پاتې نورو موردونو کې يوازې په «خالدين فيها» بسنه شوې ده. چې له عذاب سره د هغوی د ګناه له آثارو د زائل کېدو په پايله کې، له اوږدو کلونو وروسته د نجات دريځه څرګندوي. د هود سورت په ۱۰۷ او ۱۰۸ آيتونو کې د «ما دامت السموات والارض الا ماشاء ربک» اضافي توضيح يې هم د دواړو ډلو په سرليک کې زياته کړې ده. (والله اعلم)

---

۸ ـ ويل شوي چې «الْبَرِيَّهِ» له البريئه څخه مشتق شوی دی او د خدای د خلقت پر بې نقصۍ او بې عيب والي دلالت کوي «بَرَء الخلقَ مِنَ العَيبِ»، همدا رنګه ددې کليمې په نورو مشتقاتو کې لکه: برائت، تبرّی، تبرئه، او بری، له ارتباط او اتهام او بيمارۍ څخه يو ډول مبرا کېدل ترې پوهېدل کيږي. مطلب دادی چې که کومو بندګانو له کفر، عناد او مخالفت سره د پيغمبر له پاک او سپېڅلي او ولاړوونکي پيغام سره، خپل د خير او خدای پالنې استعدادونه د خپلو ځان غوښتنو او عقل دښمنيو په خاوره کې د ګياه د کر په څېر خراب او تباه کړل او په تلپاتې زيان د خپلو کړنو په دوزخ کې اخته شول، په پيل کې بې عيبه او بې نقصه پنځول شوي ول او هيڅ لامل يې نه درلود چې داسې يوه پايله ومومي. د هغوی ګڼل «شَرُّ الْبَرِيَّهِ» د حيواني غريزو په پښو کې د خپلو انساني مواهبو قرباني کولو له لامله دی چې فرمايي: «أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ» [اعراف ۱۷۹ (۷:۱۷۹)].

۹ ـ هغو کسانو چې د پيغمبر په توسه له تلاوت شوو «صُحف مطّهره» څخه تبعيت او پليوني کړې او له الهي «کتب قيمه» سره او د هغه په بيّنه رڼا کې د خپلو معنوي استعدادونو قيام او غوړېدا ته نايل شوي دي، لکه څنګه چې په مساعدو او مناسبو ځمکو کې د سالمې ونې ريښې، ودې، پراختيا، زرغونتيا او د ښاخونو او پاڼو پالنې او مېوې او بار ته رسيږي،«جنّات عدن»ته رسيږي. جنّات د ژوند په سمسورتيا او زرغونتيا دلالت کوي او«عدن»[لکه د معدن په څېر]د هاغو شرايطو پر ثبوت،ټيکاو او تل پاتېتوب اودوام دلالت کوي.« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا» د مؤمنين پر ځای، د ايمان په مسير کې د هغوی له اشتياق او ارادې او اختيار سره حرکت څرګندوي.

جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ﴿٨﴾

بدله یې د هغوی له پالونکي څښتن سره ثابت سمسور باغونه دي چې تر [ونو] لاندې یې[شنې او تلپاتې] ویالې [نهرونه] بهیږي،[۱۰] تل به هلته اوسیږي، الله له هغوی راضي دی او هغوی هم له هغه [الله] راضي دي.[۱۱] دا [نېکمرغي] د هغه چا لپاره ده چې د خپل پالونکي څښتن [د مقام له وېرې، له خپلو بدو کړنو] څخه په تشویش کې وي.[۱۲]

| جَزَاؤُهُمْ | عِنْدَ | رَبِّهِمْ | جَنَّاتُ | عَدْنٍ | تَجْرِي | مِنْ تَحْتِهَا | الْأَنْهَارُ | خَالِدِينَ | فِيهَا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بدله یې | په نزد | د هغوی د پالونکي څښتن | بڼونه | تلپاتې | بهیږي | تر لاندې یې | ویالې | تلپاتې | په هغه کې |

| أَبَدًا | رَضِيَ | اللَّهُ | عَنْهُمْ | وَرَضُوا | عَنْهُ | ذَلِكَ | لِمَنْ | خَشِيَ | رَبَّهُ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| همېشه | راضي شو | الله | له هغوی | او راضي شول هغوی | له هغه | دا | ددې لپاره | ویرېږي | [له] خپله ربه |

جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا...

ددغو ایمانوالو او د صالح عمل د خاوندانو اجر او بدله ددوی لپاره د هغوی د پالونکي څښتن په نزد تلپاتې دایمي جنتونه دي چې تر لاندې یې نهرونه او ویالې بهیږي او هلته به جاویدان او د تل لپاره پاتې کیږي. دا، د هغوی جنت دی خو له دې جنت پورته یې دادی: رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ هغوی له خپله خدایه راضي دي او خدای تعالی هم له هغوی راضي دی، د څښتن تعالی په رضوان کې ډوب دي. د توبه په سورت کې فرمایي: وَ رِضْوانٌ مِنَ اللّهِ اَکْبَرْ [توبه۷۲ (۹:۷۲)]. یعنې د خدای تعالی له رضوانه یوه ذره درلودل پر ټولو جنتونو غوره او اوچت دي، دا په داسې حال کې چې یوه ذره له جنتونو پر ټوله دنیا غوره او اوچته ده.

ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ. دا ددې خلکو لپاره دی چې له خپله خدایه خشیّت لري. د ایمان لپاره نېک عمل اړین دی او بلکې دپالونکي څښتن دپېژندنې او معرفت لپاره دپالونکي څښتن خشیّت اړین دی؛ داسې انسان هیڅ مهال د پالونکي څښتن هیبت، عظمت او ستروالی نه هیروي.

جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ، ددوی جزا څه ده؟ نه وایي «جزاءٌ لَهُم». قرآن په ډېرو موردونو کې وایي «لَهُم» یعنې د هغوی لپاره بدله، د هغوی له پالونکي څښتن سره. خو دلته وایي جَزَاؤُهُمْ او «جزا» له «هغوی» [د جزا له خاوندانو] سره اضافه کوي. یعنې د هغوی بدله د هغوی د خپل عمل پایله ده او خپل مزد یې دی چې پوره پوره یې اخلي. او ورپسې وایي عِندَ رَبِّهِمْ او نه «عَلی رَبِّهِم». «عَلی رَبِّهِم» یعنې خدای تعالی پر خپله ذمه اخیستې چې پاداش او بدله هغوی ته

ورکړي؛ خو عِندَ رَبِّهِمْ يعنې د هغوی پاداش او بدله د هغوی له پالونکي څښتن سره ده. يعنې امانت ده، له خدای تعالی سره ايښې ده. ځکه چون هغوی عمل کړی او د هغوی د خپل عمل په مقابل کې يې چې څه مزد کېږي حساب يې معلوم دی په هغې کې کښته پورته نشته او د هغوی پالونکی رب يې ورته پوره ورکوي؛ د بېلګې په توګه يومهال تاسو خپل زوی ته وايي چې که داسې دې وکړې، زه انشاءالله ډالۍ درته پېرم، يا انشاءالله يو کار درته کوم. هغه ستاسو له «انشاءالله» پوهېږي چې ښايي دا ډالۍ به ورکړې يا هغه کار به وکړې او يا « ښايي هم و يې نکړې» خو کله چې واياست ډالۍ دې له ما سره ده، همدلته ده، ته دا کار وکړه چې در يې کړم، يعنې دا چې پاداش حاضر دی، خو دا چې تاسو په ذمه اخيستی وي چې د هغه له کاره وروسته به يې تهيه کړې، ورکول او نه ورکول يې د کار په نوعيت او حالت پورې ښايي ارتباط ونيسي، او ورکول يې حتمي نه ګڼل کېږي.

خو: جَنَّاتُ عَدْنٍ. عدن جنتونه. د مرحوم طالقاني په وينا چې له «عدن» څخه مطلب همدا «معدن» او د هر څيز کان او سرچينه ده. يعنې جنت چې ګواکې د زرغونوالي او سمسورتيا معدن دی نه دا چې جنت يوازې د باغ په معنا وي. په واقعيت کې «جنات عدن» هر هغه څه چې د جنتي چاپېريال د ټوکېدنې، روزنې، پالنې، ښکارونې او منځته راوړنې باعث او لامل کېږي. ځينو هم «عدن» د ژور، اوږد او پلن په معنا اخيستی. په هر حال معدن يعنې د يو څيز د ثبات او تلپاتې والي محل. مثلاً د طلا معدن يعنې هاغه ځای چې طلا هلته ثابته ده او مؤقته نه ده چې کله هلته وي او کله بل ځای کې وي. هغه څيز چې معدني دی، يعنې تل په يو ځای دی.

خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا، هغوی به په عدن جنتونو کې «خالد» وي. د «ابد» قيد يې هم «خالد» ته ور اضافه کړی دی. ناويلې پاتې نه شي چې دا «ابد» يې په جهنم کې د خلود لپاره نه دی راوړی. او ښايي څرګنده کړي چې د «خالد» له معنا څخه د زمان د «بې نهايت» مطلب نه اخېستل کېږي، چون دلته يې د «ابد» صفت هم راوړی. او مهمتر دا چې قرآن د رښتينو مؤمنانو لپاره له جنت څخه د پورته پاداش او بدله ذکر هم کوي: رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ. او دا معنا په ځلونو په قرآن کې راغلې ده؛ هغوی له خدايه راضي او خوښ دي او خدای تعالی هم له هغوی خوښ دی. دا ستر نعمت او اجر په واقعيت کې د معشوق رضايت او موسکا ده چې هغه يې د عاشق لپاره تر ټولو ستر او اوچت اجر ګڼلی دی. تقريبا دې ته ورته يو مطلب له حضرت علي نقل شوی دی وايي چې: ځينې د خدای تعالی عبادت د هغه د جهنم له وېرې کوي چې دا د مريانو عبادت دی؛ او ځينې هم دهغه د جنت له شوقه، چې دا هم د سوداګرو او

کسبګرو عبادت دی؛ او ځينې نور چون خدای تعالی د عبادت وړ ګڼي عبادت يې کوي، چې دا د احرارو عبادت دی. يعنې حقيقي عبادت، د زړه بايلنې، حب او عشق پر بنسټ دی. البته نه غواړي ووايي چې له خدای تعالی نبايد ويره او ډار ولرې، بلکې مرتبې او پوړۍ يې څرګندوي. خپله حضرت علي، د «کميل دعا» کې څرګندي چې تر بل هر چا ډېر له خدايه ويره او ډار او هغه ته شوق لري. کله چې دعا کوي اَللَّهُمَّ ارْزُقْنا خَوفَ العِقابِ الوَعيدِ و شوقَ الثَّوابِ المَوعودِ، ای خدايه، موږ ته ويره له هغه څه چې د هغه له پايلې دې ډار راکړې او شوق پر هغه څه چې وعده دې کړې، روزي کړه. يعنې زموږ په دننه کې بايد هم له خدايه ويره او ډار او هم هغه ته شوق، ويښ او ژوندی اوسي نو بيم او اميد، ډار او هيله تائيدوي حتا الهي رزق يې ګڼي؛ خو له الهي نعمتونو چې هر څومره ډېر ولرو غوره او بهتر دي او د جنت له نعمته پورته په واقعيت کې د «رب د رضائيت» نعمت دی.

په قرآن کې په ځلونو دا تعبير راغلی دی چې: ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ. دا بدله او پاداش د هغه چا دی چې د خپل رب په نسبت «خشيت» لري. په بل سورت کې هم راغلي دي: إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاء. [فاطر ۲۸ (۳۵:۲۸)] إنّما يعنې له دې پرته نه دی چې يوازې د خدای تعالی پوهان او عالم بندګان د هغه په نسبت خشيّت لري. يعنې د خدای تعالی بې پايانه عظمت او ستروالی يوازې پوهان درک کوي، يوازې له پوهې، شناخت او معرفت موندلو سره د پالونکي ښبنتن د عظمت او ستروالي څخه ولاړه شوې حيرانتيا انسان ته حاصلېږي او خاضع او متواضع او کمين کېږي او د حق پر لارليک برابرېږي؛ له دې معرفت سره مطلوب ته رسېږي. لکه شاعر چې وايي:

خدايا چنان کن سرانجام کار تو خوشنود باشی و ما رستگار

پالونکی ښبنتنه، داسې وکړه چې هم ته له موږ راضي اوسې او هم موږ له تا راضي اوسو يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ. ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً. [فجر ۲۷ (۸۹:۲۷)او ۲۸] ای هغه انسانه چې آرامش ته رسېدلی يې او د ژوندانه له ټولو دغدغو او له بر او کوز تللو، له شور او ځوږ، له انګل، دنګل او غوغا او د هغو په اړه له سودا او انديښنو دې خلاصون موندلی او پرځان دې برلاسی پيدا کړی، ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ، د خپل پالونکي ښبنتن لور ته ورستون شه.

موږ پوهېږو چې په قرآن کې ۹۸۰ ځله د «ربْ» نوم راغلی دی خو حتا يو ځل هم له «الف او لام» سره نه دی راغلی؛ يعنې «الرّب» نه لرو. په سلو کې نهه نوي ددې کليمې کارونه ـ يعنې د کارونې کابو په ټولو موردونو کې ـ دا کليمه مضاف واقع شوې ده؛ يعنې د «رب» کليمه له يوه

څيز سره مل شوې ده: ربّنا، ربّکم، ربّهم، يا «ربُّ السّماوات والأرض. په ټولو ځايونو کې، ربّ، د څه شي ربّ دی. او دا پوره بحث دی توضيح ته ضرورت لري چې په تفصيل بايد پرې بحث وشي او پوره وڅېړل شي چې زموږ اړيکه له الله سره په واقعيت کې زموږ له «ربّ» سره اړيکه ده، يعنې زموږ د واک او اختيار له خاوند سره، زموږ له ارباب او رئيس سره؛ له هاغه چا سره چې شپه او ورځ له هغه سره سروکار لرو. «ربّ» له موږ سره معنا پيدا کوي او دوه اړخيزه اړيکه ده او واقعي عبادت کوونکي هغه کسان دي چې ددغه يوازيني رئيس، سرور او آقا او د واک او اختيار خاوند او د ټولو چارو د مالک پر وړاندې د خشيت احساس کوي.

او په پای کې دا هم بايد ووېل شي چې: د «رضی الله عنهم و رضوا عنه» جمله چې ددې سورت په پای کې راغلې ده، په دوو نورو سورتونو [مائده ۱۱۹ (۵:۱۱۹)] او [توبه ۱۰۰ (۹:۱۰۰)] کې يې هم عيناً د تلپاتې جاويد جنت له ژمنې وروسته موندلی شو، چې لکه د «بيّنه» سورت په څېر د خدای تعالی خالصانه عبادت او د توحيد منل او هغه ته ميلان او له شرکه ځان ساتنه په کې معرفي شوې ده. له دې توپير سره چې په ذکر شوو دوو موردونو کې، آيت د «ذلک الفوز العظيم» له جملې سره ختم شوی او دلته له «ذلک لمن خشی ربه» سره، چې ددې دوو له پرتله کولو څخه د پالونکي څښتن د خشيّت د اهل لپاره ترې د ستر بريالیتوب [فوزْ عظيم] د اجر نتيجه اخيستلی شو.

د سورت پای ته رسېدل د ربوبي خشيت پر ټينګار، د سورت له مضمونونو سره په اړيکه کې دا پيغام ابلاغوي چې د خدای له لوري د راغلې «بيّنه» په انوارو کې د قرار نيولو، او د هغه په کتاب او ولاړوونکي دين د هدايت موندلو شرط، هماغه بيم، تشويش، اندېښنه او اظطراب دی چې بنده يې بايد د خپلو کړنو او عملونو له پايلو څخه د خپل پالونکي څښتن په حضور کې ولري: ذلک لمن خشی ربه.

ای پالونکيه څښتنه موږ ته دا راز خشيت او ډار راوبښه چې د قيامت د حساب او شفقت له ويرې او هيلې؛ له کفر، شرک، نفاق او د توحيد له نورو آفتونو څخه ډډه وکړو او ترې ځان وساتو، او د خپل رب ـ پالونکي څښتن ـ په حاضر او ناظر ګڼلو خپلې ټولې چارې او کړنې له الهي هدايتونو سره سمې سرته ورسوو.

انک مجيب الدعوات. و صلّی اللّه علی محمد و آله الطاهرين.

صدق الله العليّ العظيم.

۱۰ ـ په قرآن کې ۴۰ ځله د جنت په وصف کې، د «تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ » جمله تکرار شوې ده چې د جنت د تلپاتې ژوند له زرغون والي او سمسورتيا څخه يو انځور دی. دا ډول يو وصف د عربستان د سوځوونکي صحرا او د دښتو د ځنځو د اوسېدونکو لپاره، د ځنګلونو او د سيندونو دغاړو د اوسېدونکو په نسبت ډېر زړه راکښونکی او په زړه پورې دی. نو پر دې بنا هاغو بڼونو ته د پاملرنې پر ځای، چې تر لاندې يې نهرونه جاري دي، بايد ددې آيتونو د نزول معاصر فرهنګ او زماني او مکاني ظرف ته پاملرنه وکړو او له هغه د وسمهال لپاره پيغام ومومو، دا سې پيغام چې د جنتيانو د ژوند پر زرغونتيا او سمسورتيا او دداسې سمسورتيا د بهير په تل پاتېتوب دلالت کوي.

جاري نهرونه، د مؤمنينو د دنيا په ژوند کې له مستمرو او پر له پسې خير او خدمتونو او جاري حَسَناتو څخه عبارت دي. د رعد د سورت د ۳۵(۱۳:۳۵) آيت پر اساس، له جنت څخه دا راز وصف، زموږ د دنيايي فهم لپاره د «تمثيل» [انځور] بڼه لري. په قيامت کې د جنتيانو د عملونو ظهور او بروز دا راز د نېکمرغۍ او سعادت بښونکي سرچينې رامنځته کوي. له هغې جملې د انسان د سورت په پيليزو آيتونه کې له هغو جامونو چې ابرار څښي او هاغه چينې چې مقربانو د خپلو عملونو په توسه په دنيا کې کنلي او ايستلي او په آخرت کې له هغوی خړوبېږي يادونه کړې ده.

۱۱ ـ د «رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ» جمله له دې آيت پرته، په مائده ۱۱۹(۵:۱۱۹)، توبه ۱۰۰(۹:۱۰۰) او مجادله ۲۲ (۵۸:۲۲) سورتونو کې هم راغلې ده. دا څرګنده ده چې خدای لپاره د خشم يا خوښۍ د کليمو کارول، استعاري جنبه لري. د خدای د رضايت له جلب څخه مطلب، د هغه له احکامو پيروي، او د هغه له خشمه پرهيز، يعنې د ګناه له ارتکاب څخه د ځان ژغورنه ده.

۱۲ ـ په قرآن کې مختلفې کليمې لکه: خوف، خشيت، رهبت، وجلت، شفقّت، فزع، هول، انذار، تقوی او ... راغلي دي چې په پښتو ژباړه کې ټول په ويره يا ډار ژباړل کېږي! که څه هم د وېرې مفهوم په دې کلېمو کې په يو ډول شتون لري، خو هره يوه خپله ځانګړې معنا لري چې له بل سره توپير لري. «خشيّت» نه عادي ويره، چې موږ ورسره آشنا يو بلکه د حيرت او هيبت احساس دی چې يوازې د خدای پېژاندو پوهانو [نه هر غافل پوه] په زړه کې د هغه د آيتونو د عظمت له پېژندنې، په آفاق او انفس کې څرګندېږي.

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندېنيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان ليکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه

۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه

۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان

۶ ـ المیزان في تفسیرالقرآن ـ د سید محمدحسین طباطبائي لیکنه
۷ ـ کابلي تفسیر [قرآن کریم ترجمه او تفسیر ـ مولانا محمود الحسن دیوبندي
او علامه شبیر احمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو یوه ډله
۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سید محمود طالقاني لیکنه
۹ ـ تفسیر نمونه ـ د آیت الله مکارم شیرازي او ورسره د علماوو د پلاوي لیکنه
۱۰ ـ تفسیر نور ـ د مصطفی خرمدل لیکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سید ابوالفضل ابن الرضا برقعي لیکنه
۱۲ ـ تفسیر باران ـ د دکتور مهدي خُدّامیان آراني لیکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسیر طبري ـ به اهتمام و تصحیح حبیب یغمائی
۱۳ ـ تفسیر ابن کثیر [حافظ عمادالدین ابوالفدا اسمعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقي]
اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفیع لیکنه
۱۵ ـ تفسیر مصباحین (اردو) ترجمه و شرح تفسیر جلالین ـ لیکونکي : جلال الدین محلي او
جلال الدین سیوطی ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لیاقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسیر کمالین د جلالین تفسیر اردو شرح ـ شرح د : مولانا محمد نعیم دیوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظیم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قیام الدین کشاف
۱۸ـ عزیزالتفاسیر ـ د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر ـ مولوي سلطان عزیز (عزیز)
۱۹ ـ صفوةالتفاسیر ـ د محمدعلي الصابوني لیکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدین حکمتیار لیکنه
۲۱ ـ تفسیر دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امین الله پېښاوری لیکنه
۲۳ ـ تفسیر ایوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبیدالله ایوبي لیکنه
۲۴ ـ تفسیر احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي لیکنه
۲۵ ـ قرآن کریم په پښتو ـ د اجرالدین اقبال ژباړه
۲۶ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان وېب پاڼه [bazargan.com]